مهدويات او دجاليات

يو څو سوالونه اود هغے جوابونه



ډاکټرمفتي ثناءالله صاحب

فەرست

سوال نمبر١..۴
سوال نمبر٢.....................................,...........................١١
سوال نمبر٣..١٣
سوال نمبر۴..١٦
سوال نمبر۵...١٩
سوال نمبر٦...٢١
سوال نمبر٧..٢۴
سوال نمبر٨..٢۵
سوال نمبر٩...٢٩
سوال نمبر١٠..٣٠
سوال نمبر١١...٣١
سوال نمبر١٢..٣٢
سوال نمبر١٣..٣٣
سوال نمبر١۴..٣٦
سوال نمبر١۵..۴٠
سوال نمبر١٦..۴٣
سوال نمبر١٧...۴٣
سوال نمبر١٨..۴۴
سوال نمبر١٩...۴٧
سوال نمبر٢٠...۴٨
سوال نمبر٢١...۴٩
سوال نمبر٢٢...۵٠
سوال نمبر٢٣...۵٣
سوال نمبر٢۴...۵٧

سوال نمبر۲۵..۶۴
سوال نمبر۲۶..۶۹
سوال نمبر۲۷..۷۱
سوال نمبر۲۸..۷۵
سوال نمبر۲۹..۷۹
سوال نمبر۳۰..۸۲
سوال نمبر۳۱..۸۳

بسم الله الرحمن الرحیم

مهدویات او دجالیات

یوڅو سوالونه او دهغے مدلل جوابونه

سوال(۱):په ټوله دنیا کښې په مهدویاتو او دجالیات باندې کار کونکو کښې کوم خلقو باندے اعتبار کیدے شي او کوم خلق بے اعتباره دي؟دے باره کښې ځمونږ څۀ منهج دے؟

جواب:په مهدویات او دجالیات باندے کار کونکي خلق په مختلفو طریقو سره کارکوي ـ یو څومنهجونه دادي:

)څه دینداره خلق ددین دخدمت په وجه صرف مهدویات اودجالیات سره تعلق لرونکي آحادیث بیانوي،خو هغوي دااحادیث دخپلې زمانې په حالاتو نه شي تطبیق کولې۔

)بعض آزاد خیاله او بې دینه خلق په مهدویات او دجالیات باندے کار کوي خو دهغوي دکار مقصد صرف په مخالفت مبني وي۔

)څه مخلص او دینداره خلق هم دمهدویات اودجالیات متعلق احادیث دموجوده زمانے سره سموي۔خو دهغوي کار صرف په تطبیق وي۔ د دے تطبیق مقصد د امت مسلمه څه قسمه اصلاح ،دعوتي ،سماجي یا مذهبي ،د اعلائے کلمۃ الله په څۀ قسمه کار کښې عملاً حصه اغستل مطلوب نه وي۔

۴)ددے په مقابله کے بعض نور خلق د کتاب الفتن او دقیامت د علاماتو داحادیثو تشریح کوي خو د هغوي تشریح د خپلے خوښے تطبیق او په خلقو کښې د لوړو تحقیقاتو مرتبه حاصلولو دپاره کوي۔ددے مقصد نه خو عملي میدان وي او نه د اکابرو تطبیقات۔

۵)هم دغسې ځني کسان کتاب الفتن او اشراط الساعۀ لولي او وقتي حالاتو سره تطبیق کولو سره داکابرو منلے شوي اصولو پیروي کوي او په خپله داکابرو داطباع کوشش کوي۔او دے تطبیق ته عملي جامه اچولو کوشش کوي

- خو دهغوي دا عمل صرف سماجي ،معاشي ، معاشرتي او دعوتي يا داصلاح حده پورے مقيد وي- ددے نه مخکښې په ميدان کے قدم نه ګدي-
۲)هم دغسے د کتاب الفطن او اشراط الساعه والا کسانو هم کمي نشته چه په تطبيق کولو کښ نوي حالات،داوسني زمانے تحقيقات،وقتي ضرورتونه،قرآن او سنت په رڼا کښې د تطبيق دپاره اکابرو دطرف نه جوړ شوي اصول اود هغه اصولو په تناظر کښې د تشريح شوي احاديثو کے داکابرو ذکر کړے شوي نصوص موجوده حالاتوسره تطبيق کوي - په دے احاديثو کښې دا خلق صرف د جهاد د نه کولو طرف ته رابلي - خو نه خو دوي سره په کتاب الفتن اواشراط الساعه کښې سماجي ،معاشرتي،معاشي او اقتصادي وغيره امورو دپاره وسائل وي او نه په ميدان کښې ددوي سره موجود افراد وي-
۷)څه خلق کتاب الفتن او داشراط الساعه عام احاديث باندے بحث کوي خوامام مهدي او دجال سره باره کښې احاديث نه بيانوي ځکه چه معاشره داسے تحقيق کونوکو ته د قدر په سترګه نه ګوري په دے وجه دا ورونه امام مهدي او دجال سره متعلق احاديث بيانوي هم او دا احاديث د موجوده زمانے سره سموي هم- خو دهغوي په دے تطبيقي منهج کښې دومره د حدوداو قيود خيال ساتي چه په هغے وجه دامام مهدي سره متعلق احاديثو حيثيت د يو معمے نه کم نه وي-
۸)ددوي په مقابله کښې څه خلق امام مهدي او ددجال د فتنو سره متعلق احاديثوکښې د تطبيق خيال وساتي اومناسب حدونو او قيدونو په رڼا کښې دکار کولو کوشش کوي-خو ددوي نه په خپل کار کښې عموماً دوه غلطۍ کيږي-
۱: يوه غلطي دا چه هغوي يو خاص کس مقرروي- ۲: دويمه غلطي دا چه هغوي دے د پاره وخت مقرروي-

یا بیا ددوي نه په دے کښ یوه غلطي وشي چه دهغې په وجه ددوي په کار کښې د شرعي حدونه خیال د نه ساتلو په وجه برکت او د تحقیق کونکو مشرانو توجه نه وي۔

۹)کتاب الفتن او اشراط الساعه باندے کا رکونکي داسے خلق ډیر کم دي چه په کتاب الفتن کښې ذکر کړے شوي سماجي ،مذهبي،معاشرتي ،معاشي صوبائي، قومي یا بین الاقوامي سطح باندے کار کونکي وي ۔ خو دهغوي مقصد صرف د خپلو نظریاتوخورول وي ۔ چه دهغے دپاره کتاب الفتن او اشراط الساعه صرف د مددګار په توګه اخلي ۔

بیاهم داسي یوڅو تنظیمونه هم موجود دي چه دکتاب الفتن په رڼا کښې په امت په کښې مخکښې ذکر کړے شوي خامیانو ختمولو کوشش کوي ۔ او دے خلقو ته اکثر د سرکار مدد حاصل وي ۔ خوددوي نه خپلو تصوراتو کښې یوڅو بنیادي غلطئ کیږي۔

<u>ړومبنۍ تصور</u>:یا خودامام مهدي متعلق داحادیثو علم نۀ وي او که علم وي بیا هم دا وائي چه دا احادیث موضوعي دي یاضعیف دي یا په دے د شیعه ګانو اثر دے یا په امت د هغه لګو خلقو پیروي کول غواړي چه د هغوي په نزد دامام مهدي ظهورپه اصل کښې امت دعملي کارونو نه منع کولودپاره د اغیاروسازش او خور کړے شوي جالونو مجموعه ده ۔ د دوي په خیال اصل کارد شریعت تابعداري،ددے نفاذ اوپه دے لاره کښې موجود خنډان لرکولودپاره د درس و تدریس ،تبلیغ،تصوف او جهاد نه کار اخستل دي۔

(ددوي خیال دادے چه)امام مهدي طرف ته رابلل په حقیقت کے امت یو غیر ضروري څیز طرف ته رابلل دي چه په شریعت کښې یي څۀ حیثیت نشته۔ دغه وجه ده چه د دوي په خیال د امام مهدي د نظریي څه حیثیت نشته ۔

<u>دویم تصور</u>:دویم تصور دادے چه دامام مهدي نظریه لرل خو صحیح ده خود دوي فکر دادے چه هرهغه دهدایت کارچه یو انسان یي کوي،پخپله یا د یو تنظیم اوډلې په ذریعه...نودا کار امام مهدي والا کار شو۔ یعني د دے تصور

لرونکو مطابق د امام مهدي مطلب په نيغه لار تلل اوپه شريعت عمل دے ۔ د دوي په نيزضروري نه ده چه امام مهدي دِ يو انسان وي۔
دريم تصور:د دے په خلاف د ځني خلقو په نيز د امام مهدي وجود به د انسان په شکل کے وي۔خو دا انسان هرڅوک کيدے شي۔ په هره زمانه او هره علاقه کښ چه کوم انسان هم دامام مهدي په صفاتومتصف شو هغه ته به امام مهدي وئيلې شي۔
څلورم تصور:د ګڼ دعلم خاوندان شيعه ګان اواهل سنتوپه نيز امام مهدي به په آخره زمانه کښې د نبي کريم صل الله عليه وآله وسلم د نسل فاطمي بي بي او حضرت علي په اولاد او سيدنا حسين رضى الله عنه په پشت کښې به وي۔خو دشيعه حضراتو په نيز دا صاحب دولس سوه کاله مخکښې پيدا شوے دے او تر اوسه پورې په يو غار کښې پټ دےد ځني شيعه ګانو په نيز د امام مهدي شخصيت د حضرت خضر عليه السلام په شان دے،موجود في الامصار وغائب عن الانظار،يعني امام مهدي په ښارونو کښې موجود وي خو په نظر به نه راځي۔
پينځم تصور:د ګڼو اهل سنتوپه نيز امام مهدي به دنبي عليه السلام په خاندان کښې پيدا کيږي۔ خودهغوي په نيزد امام مهدي ظهور ته لا ډيره زمانه ده۔
شپږم تصور:د داسې اهل سنتوتعداد هم ډير زيات دے چه د هغوي په نيزموجوده دورد امام مهدي زمانه ده۔خو هغوي دا مسئله تکويني ګڼي نه چه تشريعي۔ مطلب دا چه د امام مهدي سره متعلق شرعي طور مونږ ته د څۀ کار محنت ضرورت نشته او نه مونږ د دے مکلف يو۔ بله چه کله الله اوغواړي د غيب نه به اسباب راپيدا کړي او دغه شان دامام مهدي ظهوربه واقعه شي۔
ددے حضراتود نظريې يوڅو خبرے دادي:
١:د بيعت نه مخکښې به امام مهدي ته پته نه وي چه زۀ امام مهدي يم او کنه۔

۲:دغه شان دبیعت نه مخکښې به خلقو ته هم د هغه باره کښې څۀ پته نه وي۔ بلکه ناڅاپه به علمائے کرام امام مهدي وپیژني او د هغوي په لاس به بیعت وکړي۔
۳:د دین چه څومره محنتونه دي هغه ټول چه ادا کیږي داما مهدي د نصرت سبب جوړیږي ۔دي دپاره د بیل محنت ضرورت نشته۔هم دا دیني جماعتونه به دامام مهدي دظهورنه پس هغوي سره ملاویږي۔
۴:دظهورمهدي دپاره که د یو مستقل نوي کار ضرورت وے نوزمونږ اکابروعالمانو به ضرور دغه اړخ ته توجه راګرزولي وه۔ بس دا دومره ضروري کار نه دےدے ته توجه ورکول ددین د نورو ضروري کارونونه توجه لرے کیږي۔ په دے وجه دے نه ځان ساتل پکار دي۔
۵:د امام مهدي ظهور دپاره چه کله هم کوششونه شوي دي،په نتیجه کښې امت د فتنو ښکار شوے دےخیر ترے نه دے راوتې۔ دے وجه نه په شریعت عمل د کامیابۍ ضامن دےوهمي څیزونو ته پام لرنه د نورو مسئلو راپیدا کیدوسبب کیدي شي۔
۶:چه په شریعت عمل کیږي نو د راتلونکوکارونو دپاره تیارے صالح عملونه دي چه د هغي طرف ته ددین نورو شعبې دعوت ورکوي لګیا دي۔په دے وجه که یو نوے کار شروع شي نو دامت توجه به نوره هم خوره وره شي اومسئلے به پیدا شي۔
۷کله چه الله د یو څیز فیصله کوي نو د هغے دپاره د اسبابو بندوبست هم د هغه دطرف نه کیږي۔دغه وجه ده که الله تعالې د امام مهدي د ظهور فیصله کوله نو د هغے دپاره به یي اسباب هم راپیدا کړي وو۔
۸:څنګه چه افغانستان کښ د جهاد د شرعي فیصلې د پوره کیدو نه پس چه کله افغان جهادي ګوندونو کښې اختلافات پیدا شو نو الله تعالې خود بخود د ملا محمد عمرؒ په صورت کښې یو مشر پیدا کړو او د خپل غیبي خزانو نه یي دامت دپاره د یو نوے قیادت انتظام وکړو۔

۹:دغه شان چه په شریعت عمل جاري وي نونصرت،هجرت،جهاد او اجتماعیت د امت دمسئلو حل دے۔موجوده زمانه کښې دامام مهدي نظریه خورول د دین په محنتونوکښې سستي پیدا کول دي۔او موجوده شرعي کارونه غیر موجود کارونو دپاره پریخودل دي۔ په دي وجه دا قسمه نظریات پریخودل ضروري دي۔

۱۰:چه کله امام مهدي راشي نو هغه به څه نوي شریعت سره نه راوړي بلکه دیو مجد د په حیث به د نبي علیه السلام سنت طریقې به جاري کولو کوشش کوي۔ په دي وجه د اوس نه په شریعت عمل کول او سنت طریقې جاري کولوکوشش ضروري دے۔دا کارونه یو شخصیت سره تړل صحیح نه دي۔

دا هغه څیزنه دي چه نن صبا د ظهورمهدي د پاره محنت پریخودو د پاره د دلائلو په صورت کښې پیش کیږي۔په دے کښې اکثرسوالونه داسے دي چه په دے محنت د نه پوهیدو وجه پیدا شوي دي۔

....

د دي ټولوسوالونوجواب دا دے چه د شریعت مطهره نه مراد د نبي علیه السلام د پیغمبرئ مقاصد ترسره کول دي۔ چه په هغي کښې تعلیم د کتاب او حکمت،تزکیه نفوس او دغیبي خبرو علم د هر څه نه ضروري دي۔د دے خبرو وضاحت په حدیث جبریل علیه السلام کښې نبي علیه السلام ایمان،احسان،قیامت او علامات قیامت سره کړي دي۔

په دي کښې هر یو محنت په خپل ځائے د شریعت مستقل او بنیادي رکن دے۔او په دے کښې یو پریخودل دټول دین پریخودل دي۔هم دا وجه ده چه د قیامت په علامو کښې فتنې،ظهور مهدي،فتنه دجال اود نزول عیسي علیه السلام درسونه لوستل او خودل او په دي ایمان ساتل چه څنګه ضروري دي،هم دغه رنګ ددي دپاره عملي محنت ضروري دے۔لکه څنګه چه دایمان، اسلام او احسان دپاره لګیادے محنت کیږي۔ لکه څنګه چه ایمان، اسلام اواحسان منل ،پیژندل ،په هغي عمل کول اوددے خورولو سره سره د

دے دنفاذ کوشش د شریعت حکم دے۔بالکل هم دغه شان د علامات قیامت پیژندل،منل،چه په څۀ عمل کیدې شي په هغي عمل کول او چه څۀ پریخودل پکار دي هغه پریخودل او دا شان کوم نیک کار چه په خپله کوو د هغي طرف ته خلق رابلل او دهغي د نافذ کولوکوشش کول د نبي علیه السلام د راتګ مقصد دے۔ نو دا څۀ نوي مستقل محنت نه دے بلکه ددین یو ضروري حصه ده۔او ددے د پریخودوپه وجه حقیقت دادے چه ډیرې مسئلې مینځ ته راتلې شي۔صحابو،تابعینو او د دین اکابرو هر دور کښې په دے کښې هریو محنت د دین حصه ګڼلې ده اودے دپاره یې کار کړي دي۔
په موجوده حالاتو کښې لکه څنګه چه د دعوت او تبلیغ محنت په یو نوي انداز سره کیږي۔د مدرسو د نظم او ضبط پیژنګلو د یو شعبې په حیث کیږي۔چه د وخت د تقاضو مطابق د امتاحاناتو ترتیب وغیره نوي منظم شکل اختیار کړي دے۔
هم دغه شان په بدلیدونکي حالاتو کښې لکه څنګه چه ایمان،اسلام او احسان دپاره علمي او درسي سطح باندے لګیادي محنت کیږي۔او په عملي توګه مدرسي،خانقاهونه د جهاد میدانونه او نور د دیني کارونو شعبې خپل منصبي فرائض پوره کوي۔دغه شان قیامت او د قیامت د نښو شعبې مثلا فتني،ظهورمهدي،د دجال فتنې او دعیسیٰ علیه السلام نزول سره متعلقه علمي محنت سره سره تطبیقي انداز اور عملي جد وجهد هم د وخت یو اهم تقاضا ده۔ چه د دي محنت په وجه به بره بیان شوے اند یښنې نه پیدا کیږي۔
سوال(۲):په غیر مسلم خلقو کښې دقیامت او دعلامات قیامت متعلق کار کولو والو باره کښې څه خیال دې؟
جواب:؛ دعیسایانومشهوره ډلې کیتهولک او آرتهوډیکس دي۔پروټسټنټ ډله د ټولوعیسیانو برخلاف ډله ده۔ په دي کښې هریوه ډله د بلې ډلې ګمراهۍ رانقل کوي او د تورات،انجیل او نورومقدسو صحیفوپه رڼا کښې د ذکر شوي نصوصود تطبیق سره ذکر کوي۔

۲ـهغه یهودیان چه د اسرائیلوبرخلاف دي هغوي د تورات او دهغې د تشریحاتوپه رڼا کښې اسرائیلو طرف ته هجرت کونکي یهودیان د اسرائیلو موجوده حالات ذکر کوي او دآسماني کتابونود دلائلوپه رڼا کښې دهغې تشریح او تطبیق کوي۔
۳۔ د دي په مقابل کښې صیهوني یهود اسرائیل طرف ته هجرت نه کونکي او د اسرائیلو د وجود مخالفینو ته د موسی علیه السلام دتعلیماتو نه غدر کونکي بللې شي۔او په دي باره کښښ دبائیبل او د نورو نصوصوسره د اوسنۍ زمانې تطبیق کوي او دا د" مسایا"د خروج نښه بولي۔
مهدویات او دجالیات کښې دعرب دنیا منلې شوے تحقیق کونکي او مشهورشخصیت منصور عبدالحکیم دے۔په دے موضوع دهغوي ډیرتحقیقي کتابونه چاپ شوي په منظرعام موجود دي۔دغه شان د مصري عالم شیخ امین نوم هم مشهوردے۔خو د دے ښاغلوپه کار کښې د تطبیق د اصولو پیروي نشته او نه د تاویل او تشریح دپاره د مخکښینو او روستنوعالمانو تحقیقاتو ته فکر کوي۔په دي وجه د دوي دکارنه زیات خلق فائده نه اوچتوي۔دغه شان نور تحقیق کونکي دي چه د هغوي په کلام کښ یا خو د وخت تعین دے او یا د یو تنظیم سره وابسته وي یا پکښې د اکابرو عالمانود تابعدارۍ نه کولومسئله وي۔
دغه شان د هندوستان یو محقق اسرارعالم هم دے چه د دین باقاعده عالم نه دے خوپه ډیرو ژبومهارت لرلو په وجه په دے موضوع ډیراهم کتابونه لري۔بیا هم زمونږدکارمدارد شریعت په اتباع،د دین دټولوشرعي ډلواو د معتبرو شخصیاتوداصولو ضوابطواو دتطبیق واضح او درسته پیروي ده۔او دا نظریه ختمول دي چه د دین دیو کار کولو په وجه به ګڼي د دین د نورو کارونو نه منع کیدل جائز وي۔ د ایمان، اسلام او احسان سره سره قیامت او د قیامت د نښو په تشریحاتو کښې علمي،تطبیقي اوعملي محنت کولو نه پس د

امام مهدي دبيعت دپاره هجرت ،نصرت او جهاد له رواج ورکول دي۔ والله اعلم باالصواب

سوال(۳):دکتاب الفتن د احاديثو تعلق دايمانياتو سره دے او کنه؟په احاديثو کښې زيات تره پيشن گوئې قياس ته نزدي نه معلوميږي،نوپه هغي څنگه يقين وکړو؟د کتاب الفتن د احاديثو الفاظ واضح نه دي چه د هغې په وجه د هغې پوره کيدل او د هغې تطبيقول مشکل وي۔

جواب:پيشن گوئې او دغيبو خبرې،دئ سره متعلق د نبي کريمؐ او د نورو پيغمبرانو معجزې او دهغوي نه نقل شوي پيشن گوئي يو اهم باب دے۔ خو په موجوده دور کښې يو طرف ته خوځنې د علم خاوندانوته مغالطه شوې ده -(وائي)چه د پيشن گويو تعلق د ايمانياتو سره نه دے۔غالباً دهغوي د رائې وجه داده چه کله هغوي ته پته ولگيده چه ډيرې پيشن گوئ داسې دي چه د هغې الفاظ غيرواضح دي۔ځنې هغه دي چه په ظاهره د سوچ او فکر نه لرې معلوميږي۔ د ځنو په څورالس سوه کاله کښې چرې نه دي ښکاره شوي۔ځنې ښکاره شوي خو دي خو درواياتو مطابق مکمل نه دي پوره شوي۔

د دې ټولو مشکلاتو نه د خلاصي دپاره هغوي دا صورت آسان وگڼوچه بس د دې خبرونه انکار وکړے شي او که چرې ومنلې شي نو بياهم د دے اهميت دومره کم کړئ شي چه د انکار برابروي۔ بيادا خپلې کارنامې قانوني کولو دپاره دا خلق رواياتو طرف ته متوجې شو او چه هلته ورته ضعف معلوم شونو د هغوي دا خيال نور هم پوخ شو۔

بل طرف ته چه کله هغوي وکتل چه د دے پيشن گويانوتعلق اکثراخبارآحاد سره دے نو دا خيال يې وکو چه بيا د دے تعلق د ايمانياتو سره څنگه کيدې شي؟د دے نه پس د دوي نظر په دې خبره پريوتوچه د پيشن گوئې خبرې په عقيدو کښې شاملول هڅې يو غلو ده۔او ډيره بې ځايه غوندې کاردے ۔په دې وجه دا تجويز مخې ته راغې چه بس داباب دې هډو بندکړئ شي۔انا لله وانا اليه راجعون۔

که غور وکړئ شي نو دا خبره بالکل ښکاره کيږي چه پيش ګوئي خو د نبوت يو اهم حصهٔ ده.ځکه چه د"نبي" تکي مطلب دا دے چه دا الله طرفه خبر بيا مومي نو نورو ته ئي ورسوي.هم د دے دويم نوم د غيب خبرے دي.بيا آخر دا څنګه کيدے شي چه آخري او د لوئ عزم خاوند پيغمبر دے دغيب هيڅ خبر نه وي ورکړے.

قرآنِ کريم هم دغيب دا خبري په چيلنج سره بيان کړے دي بلکه د قرآن پاک د اعجاز يوه حصه د غيب دا خبرے دي.دالله جل شانه فرمان دے،" **ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ (ال عمران۴۴)**

"ددا دغيب خبري دي او تهٔ خو د هغه خلقو سره موجود نهٔ وے چه کوم وخت هغوي خپل قلمونه وتړل چه څوک د مريم بي بي پالنه کوي او چه خپلو کښ په جګړه وو."

بل ځئ ارشاد دے،**"تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا أَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هَذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ "(هود۴۹)**

"دا دغيب خبرے دي چه تاته وحي کيږي،ددےنه مخکښې تاته او ستاقوم ته څهٔ معلومات نهٔ وو. صبر کوه بې شکه ښائسته انجام د متقيانو دے".

په دےکښ هم هغه خبره دوباره ارشاد شوه او وےفرمائل چه دا هر څهٔ د غيب(پټو)خبرو نه دي.

دغسې د صحابه کرام رضي الله عنهم په واقعاتوچه غوروکړې شي نو پته لګي چه د هغوي په نيزپيشن ګوئې ډير لوئې اهميت لري.تر دے پوري چه د روم او فارس د پيش ګويوپه موقع حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنهم په دے وجه شرط کيښودوچه او دجنګ بدردفتحِ نه پس صحابه کرامودا واقعه په ډيرزور شور سره بيان کړه او چه کوم شرط ئې د مشرکينو سره مقررشوے وو هغه هم وصول کړې شو.دغه شان د يو جنګ موقع پيغمبرعليه السلام چه

د کوم کافر په کوم ځائے کښې قتل کيږي خودلي وو،هغه(کافر)يو انچ اخواديخوانه بلکه هم هغه ځائےقتل کړې شو۔
دغه شان حضرت علي رضي الله عنه چه د خوارجو سره دجنګ نه فارغ شونو هغوي د خوارجود لاشونود تلاش حکم ورکړوتر کومې پورے چه دپيغمبرعليه السلام د فرمان مطابق د هغه کس لاش نۀ وو ملاؤ شوې تر هغه وخت پورے دوي پريشانه ووبيا آخر دا چه د هغه نمونې سړي(لاش)ملاؤ شو نو هغوي په آرام شو۔
ددي مقابل کله چه په مشکل حالاتو کښې د صحابه کرامو په پيش ګويوکښ معمولي شک پيدا شو نو نبي عليه السلام سختته زورنه وکړه ۔ په يو جنګ کښې واؤريدل چه فلاني سړي د ځان پروا نه ساتي او زبردست جنګ کوي نو نبي عليه السلام خبر ورکړو چه دا سړے دوزخي دے حال دا چه دې سړي په کومه بهادرئ سره جنګ کوو هغې ته صحابه کرام پسخيدل۔په دې حالاتوکښې ظاهره ده د داسې کس دوزخي کيدل د حيرانتيا خبره ده۔خو چه کله دغه کس زخمي شو او تکليف نه تنګ شو نو خودکشي وکړه او د نبي عليه السلام پيش ګوئي ټکي په ټکي پوره شوه او ټولو ته داخبره ښکاره شوه چه دوي دالله رشتنې رسول دے۔ دا نه چه د حالاتو رخ ته وګوري او د پيش ګويو خلاف د خپله ځانه يو رائې قائمه کړي نو دا ممکن نه ده۔
پيغمبرعليه السلام او دصحابو کرامو د اړخه د دې خبرې حيث ثبوت نه ملاويږي چه د پيغمبر عليه السلام د پيش ګويويا نورو اقوالو باره کښې دي د هغوي په ايمان کښ څۀ شک وي۔
حقيقت دادے چه کومه خبره هم په صحيح سند سره ثابته وي په هغې ايمان روړل فرض او واجب دي۔ که دا خبره ايمان کښې داخله وي او که په اخبارآحاد کښې ۔ پاتې خبره د ابهام اوداجمال شوه نو اکثر په څه خبرو کښ ابهام مقصود وي او په دې ابهام کښې دانسان آزمائش وي۔د ضعيف اوقوي ايمان امتحان وي۔په دي وجه محديثونو د دي احاديثو نوم"کتاب

الفتن"کښېنود-چه د دي احاديثو په ذريعه د انسانانو امتحان او آزمائش وکړئ شي-الله تعالي دې مونږله دغيب په خبرو او" کتاب الفتن"کښ بيان شوي واقعاتوباندې د عمل توفيق راکړي-

سوال(۴):دامام مهدي نه مخکښې چه په دنيا کښې کوم کوم علامات تير شوي دې،په هغې کښې په ځنې احاديثو کښې دروسي نسل کوم کوم ملکونه شامل دي؟د سعودي د باچايانو ترتيب او په دې دوران کښې د امام مهدي د ظهور نه څه مراد دے؟

جواب:په دي روايت کښ مختلف قسمه نښې دي-ړومبۍ نښه داده چه په تاسو به ترک حمله وکي او دوئمه نښه داده چه کوم باچه به مال جمع کوي(په مال جمع کولو کښې مشهور وي)نو دا مالدار باچه به مړ شي-او د دې نه پس به داسې باچه راشي چه ضعيف به وي يعني بدن به بې هم کمزوري وي او په حکومت کښې به ئي هم کمزورئ اثروي-دوه کاله به حکومت وکي خو دوه کاله پس به ترې حکومت واخستې شي-حکومت اخستو دپاره"خلع يخلع" صيغه استعمال شوې ده-مطلب داچه حکومت به خو د دهٔ وي خو کوي به بل څوک-يعني خلع به وشي-په داسي طريقه به ترې حکومت واخستې شي چه په نوم خو به د هغهٔ حکومت وي خو (اصل)بادشاهي به د بل سړي وي-او د دمشق د جماعت دواړو طرف ته به"خسف"وشي او په شام کښې به کم نه کم درې ډلې راوځي-او دمغرب اوسيدونکي به مصر طرف ته راوځي او دا د سفياني د خروج هم نښه ده-دغه شان په روايت کښې مختلفې خبرې ذکر شويدې-

ړومبۍ نښه داده چه ترک به په تاسو حمله وکړي-ترک نومې سړي،دا حضرت نوح عليه السلام د زوي يافث په اولاد کښ دے چه هغهٔ ته پينځهٔ غټې غټې قبيلې منسوب دي-په دې کې ۱-بنو هياطله ۲-بنو صفده،چه موجوده چينيان دي،ازکس،اسکش۰بنوالروس)-دا درې واړه روسي نسل دے يعني دروس چه کومې علاقې دي په دې کښې خورې ورې دا قبيلې موجود

دي.۳ـسلجوقي خاندان،چه الپ ارسلان سره د غرونو نه راکوزشو او باچه شو.۴ـ تتار،منګول او مغل،دا څلورواړه مشهورخاندانونه دي.۵ـ نوري قبيلي چه د ترکستان په نوم مشهوري دي لکه ازبکستان،تاجکستان او د کرغزستان وغيره علاقې دي.نو دا ټول ترک دي.
په ترک نسل کښ ښهٔ انسانان هم شتي او خراب هم.په اوسنئ زمانه کښ ښهٔ ترکيان سلاجقه دي.او په خرابو ترکيانو کښ د کافرانو موجوده ملکونه لکه چين،روس او نور بې دينه ملکونه پکښې شامل دي.خو په دي کښې ځنې داسې خلق دي چه هغې ته بربر وائي.بربرنسل يو خوافريقي دي او يو ترکي دے.موجوده زمانه کښې که دې نښې ته وکتي شي نو په اسلامي تاريخ روس په شام باندې هغه وخت حمله وکړه چه کله دهغهٔ نه دلوئې طاقت(Super Power) نښه په افغانستان کښ د شکست او د سويت يونين د ختميدو سره ولويده.دې نه پس ړومبنئ جګړه ئي په شام کښې د مجاهدينو خلاف شروع کړه.
دې نه پس دوئمه نښه دا بيان شوې ده چه کوم باچه به مال جمع کوو.هغه به مړ شي.کهٔ اوسنئ زمانه کښ د دي تطبيق وکړي شي نو د شاه عبد الله د مرګ نه پس دا قصه مخې ته راغلې ده.ځکه چه روس د شام په مزکه حمله وکړه.او هم په دغه زمانه کښ د سعودي عرب په تيرو شوو باچايانو کښ د ټولو نه مالدار باچه شاه عبدالله مړ شو.د بي بي سي په يو رپوټ کښ د اکي پټه جاسوسي څانګه،سي آئي اے،دا انکشاف وکو چه د شاه عبد الله په دور کښ د سعودي عرب په خزانه کښ د ټولو زيات مال او دولت جمع شو. دادولت شاه سلمان اودهغهٔ ځوئ محمد د يمن په جنګ او په نوروعياشووالوزولو.او دغه شان ځان،خاندان اوملک ئي دراروانو پيش ګوئي د پاره درست ثابت کړو.د دې نه پس فرمائي"ويستخلف بعده ضعيف"د دي نه پس يو ضعيف باچه به خليفه شي.دغه رنګ په ۵ ٠ ء کښ شاه عبد الله مړ شو.د دې نه په ۷ ۲۰ء کښ شاه سلمان اول محمد بن نائف خپل ولي عهد

جوړکړو او بیا ئي هغه ختم کړو او خپل ځوئ محمد بن سلمان ئي خپل ولي عهد جوړکړو۔

۵ ۲۰ء نه ۲۰۱۷ء پورې خو دشاه سلمان حکومت وچلیدو خو ۲۰۱۷ نه پس بیا چه کله سلمان خپل ځوئ ولي عهد کړو نود هغې نه پس ټول کارونه د سلمان ځوئ کوي په ظاهره سلمان باچه دے خو په حقیقت کښې نه دے۔

دې نه پس دا خبره وفرمائله چه د دمشق جماعت کښې به خسف وشي۔خسف به یا تکویني طور وي یا به پیش ګوئي پوره شوي وي۔او دا قسمه ډیر واقعات مخې ته راغلي دي۔دخسف مطلب یا خو په څۀ وجه دمزکي لاندي تلل دي او یا د میزائلواو بمونو په وجه دخلقو په مزکه ورننوتل دي۔ لکه دشام مزکه چه د بارودو په وجه تس نس شوي ده۔په دي حدیث شریف مخکښې دي چه په شام کښې به دري غټې غټې ډلې راوځي۔په سنیانو کښ القاعده او داعش،قوم پرستوکښې کرد او نورې ډلې اوشیعه او روافضو کښې دبشارفوج په ټولوکښې اول دے۔چه په خپلو لګیاوجنګیدل۔

سوال(۵):د آزربائي جان باره کښې رویات اوددې نه څوک څوک مراد دي؟

جواب:آذربائي جان سره متعلق نعیم بن حماد په کتاب الفتن حدیث نمبر۲۱۳باندې نقل کړي دي،"عن النبي ﷺللترک خرجتان،خرجه یخرجون آذربائیجان والثاني یربطون خیولهم بالفرات لا ترک بعدها"

یعني ترکیان به دوه ځله راوځي۔یوځل آذربائي جان سره او بل ځل به دفرات سره خپل اسونه تړي۔دې نه پس به ترکیان نۀ وي۔

دوئم روایت کښې داسې دي،" عن مکحول قال قال رسول اللهﷺ **للترک خرجتان(خروجتان)احداهما یخربون آذربائیجان والثاني یشرعون علي ثني الفرات۔هکذا عن عبدالراحمن ابن زید في حدیثه عن رسول الله انه قال ضیعث الله تعالي عن خیولهم الموت فیرجلهم فیکون فیهم ذبح الله الاعظم لا ترک بعده"**۔فرمائي چه ترکیان به دوه ځله راوځي یو ځل دفرات خلاف۔او بل ځل آذر بائیجان دپاره۔عبدالرحمن بن زید فرمائي چه الله به دهغوي اسونه مړه

کړي.بيابه دوي پياده راوځي.د الله د طرفه په دوي مرګ راشي او قتل قتال به وشي.د نه پس به ترکيان راوځي. دغه روايت مکحول دنعيم بن حماد نه په حديث نمبر١٩٠٥کښ رانقل کړي دي.او آذربائيجان سره متعلق دوئيم روايت دغه شان د شيعه ګانو په کتا ب کښ هم موجود دے.چه دا تري معلوميږي چه کله د آذربائيجان مسئله راشي نو مسلمانان او ترک دواړه به روځي او ډيره وينه به توي شي او دمسلمانانو قتل عام به وشي.دمسلمانانو وينه به توي شي او ددي نه مسلمانانو ته الله تعالي د امام مهدي په ذريعه فتح ورکړي.

هم دابه دامام مهدي دظهور د آخري نښو نه وي.اوس سوال دادے د" ترک"نه دلته څوک مراد دے؟که چري مونږنعرو احاديثو ته وګورو چه د خراسان په باره کښې نقل شوي دي چه د خراسان نه به دجال راوځي يا داسي راغلي دي چه مسلمانان به روم فتح کړي او دشام په فضائلو کښ راغلي دي چه دشام خلق به پکښې هم شريک وي يا د دمشق د غوره والي باره کښ هم احاديث راغلي دي.

دي ټولواحاديثو کښ تعارض ختمولو دپاره مناسب تطبيق دادے چه په دے علاقوښ کوم نيکان خلق دي ددې نه هم هغه مراد دي او ددې علاقې فاسقان فاجران په فضائلو کښ نه دي داخل بلکه د نيکانو خلقو فضلت مراد دے.په دې نظر چه ورته وګورې نو اګرچه په موجوده زمانه کښې ډيرے کمۍ کوتاهۍ دي.شرعي کمۍ هم شته،دعقيدې خرابۍ هم شته او ډيرکمزوري عملونه هم شته.بياهم الحمدلله په امت کښې څۀ نه څۀ دين شعور موجود دے.

دحديث د دوئم اړخ نه دا معلوميږي چه دترک اطلاق په تاتارهم کيږي.او دترک اطلاق په روسي نسل هم کيږي اوپه چيني نسل هم دترک اطلاق کيږي.نودترک نسل چه کومې خرابۍ په احاديثو کښ راغلې دې نو دترک نه هم دا مراد اخستل پکار دي.او چه کوم مسلمانان دي او څۀ نه څۀ محنت هم کوي. په هغوي دا احاديث منطبق کول مشکل معلوميږي.البته دا وئيل چه په دوي کښ خرابۍ دي اود خرابي دعقيدي يا نورې خرابۍ دي نو امت ددې

خرابو نه منع کولو دپاره که چرې داسې احادیث بیان کړیشي چه داکابرو دتربیب او داهل سنت د اصولو مطابق وي نو دې کښې څۀ باک نشته۔

سوال(۲):ظهورمهدي اود دجال د فتنې متعلق څۀ اشکالات اودهغې حل...مکاني،زماني،سیاسي،تکویني او شرعي او داهل حل و عقد سره متعلق وضاحت وکړئې؟

جواب:د مهدي د ظهوراو د دجال د فتنې متعلق د تمهید په توګه څوخبرې پیش کوم چه داټول اشکالات به پرې،ان شاء الله،ختم شي۔

ړومبۍ خبره:په احادیثو کښې دظهور مهدي یو څو نښې دي۔کله چې هم دانښې پوره شي امام مهدي به ښکاره شي۔ که په دې نښو کښ یو نښه هم پوره نه وي نو امام مهدي به نه ښکاره کیږي۔په دې نښو کښې یوه نښه زماني ده۔مطلب دا که چرې په یو زمانه کښ داما مهدي نښې بیاموندې شي نوهم په دغه زمانه کښې به امام مهدي ظاهریدل ممکن وي۔خوکه په یو کس کښې دامام مهدي نښې وي اوپه دغه زمانه کښې دامام مهدي نښې نه وي نو دغه کس ته حقیقي مهدي،دکوم وعده چه شوې ده،نه شي وئیلې کیدي۔اګرکه خلق پرې متفق شي او اسلامي حکومت وي۔یا بیاکه یوسړې دامام مهدي دعوه وکړي نوددې سړي دسنن ابي داؤدمطابق دقتل حکم دے۔

ځکه چې دا سړې مفارقه عن الجماعه(دمسلمانانود جماعت نه جدا کیدونکې) دے۔دحدیث داسې الفاظ دي،"فاقتلوه کائنامن کان"یعني دې دي قتل کړې شي اګرکه ډیرلوئې شیخ او سیدوي۔ځکه چه که څوک دامام خلاف دشرعي دلیل نه بغیر خروج کوي نو هغه قتلول پکاردي۔

دوئمه خبره:که امام مهدي زمانه هم بیا موندې شي خوچه دامام مهدي کوم مکان دے هغې مکان باره کښې معلومات نه وي۔یعني چه مکاني صفات پکښې نه وي چه کوم ځائے پیداشوې دے،کوم ځائے لوئې شوې دے،کوم ځائے ته ئې سفر کړې دے،اصل نسب ئې کوم ځائے دے او علم ئې کوم ځائے حاصل کړے دے،تحریک ئې دکوم ځائے نه شروع شوې دےاوچه دا

تحریک په امام مهدي ختم شوې دے خو هغه انکار کوي۔خلق په زوره هغه مهدي مني۔نودا مکاني نښې دي او دا ضروري دي۔

دریمه خبره:په دغه زمانه کښې په سیاسي لحاظ سره هغه نښې ضروري دي چه په کومه کښې به امام مهدي رازي۔اوددوې دظهور دپاره سیاسي طورمعامله سازګاره وي که سیاسي طور معامله ناسازه وي نو اګرکه زماني او مکاني نښې موجودوي خودغه کس ته مونږ امام مهدي نه شو وئیلې۔

څلورمه خبره:دامام مهدي دظاهریدو نه مخکښې د هغۀ په مددګارو کښې دشرعي صفاتوموجودګي ضروري ده۔ چه شرعي صفتونه موجود وي نو هله به امام مهدي ښکاره کیږي۔که شرعي صفات نۀ وي یا ذکرشوي صفاتو کښې یو هم نۀ وي او د خلیفه د انتخاب شرعي طریق کار سر ته ونه رسیدو نو دۀ ته به امام مهدي نه شي وئیلې۔

پینځمه خبره:دغه شان تکویني نښې هم ضروري دي یعني دامام زمانه،مکان او دامام مهدي د ظهور نه مخکښې سیاسي،شرعي او مکاني نښنو سره سره په دغه زمانه کښې تکویني صفتونه هم ضروري دي۔د تکویني نښو او صفتونو مطلب دادے چه په دغه زمانه کښې به دآسمان او زمکې څۀ حالت وي۔د فضا،د اوبو،دریابونواوبارانونوبه څۀ حالت وي؟داسمان د درزار او غربار،اسماني بجلي او رڼاګانې به څنګه وي۔ دخلقواخلاقي صورت حال به څۀ وي،عادتونه به ئې څنګه وي۔ که چرې په یو زمانه کښې دا ټولې نښې وي دکومو ذکر چه په احادیثوکښې دامام مهدي دظهور په باره کښې راغلې دي نو بیا به مونږوایو چه دا زمانه، دامکان، دا نښې شخصیه،شرعیه اوتکوینیه موجود دي۔دې نه پس علماء به وي اود هیو عالم په لاس به ۳۱۳ کسانو بیعت کړې وي۔د دوي حیثیت به حل وعقد دخاوندانووي۔ او د دوي به دا ذمه واري وي چه په دوي کښې کله دا مطلوبه شرطونه پیداشي نو دغه حل او عقد والاپه لاس به بیعت وکړي او دوي ټولو په یوداسې کس اتفاق وکړي چه په هغۀ کښې به تقریباً۷۵،۷۴نښې موجود وي او امام مهدي به

دبيعت نه انكار كوي او دوي به اصراركوي او مجبوره كوي به ئې نودا بيعت په اصل كښې مكمل خلافت حسابيږي۔

ښكاره خبره ده چه داهل حل وعقد به امام مهدي پيژني،دهغۀ پيژند ګلو به وي او دهغۀ د تقویٰ نه به ښۀ خبر وي۔دامام مهدي په غټو ښو كښې ږومبۍ ښه داده چه هغه به دامامت په منصب فائز وي فاطمي او حسني حسيني به وي۔د شريعت په رڼا كښې به يو متفقه شخصيت وي او هيڅ قسمه ډلې يا تنظيم سره به بغض نه لري۔باقاعده د يوډلې سره به وابسته هم نه وي كه وي هم نو داسي نه چه شرعي اصولومخالفت د كوي۔دغه شان د خلقو هغۀ سره عقيدت او دهغۀ په خلافت اتفاق دامام مهدي ښې دي۔كه دا ښې بيا موندې شوې نو داكس به خليفه اوامام وي۔د خليفه كيدو مطلب دادے چه دمسلمانانو د بادشاهۍ سره متعلقه ټولو كارونوذمه وار به وي۔يعني ذمه واري په دوي وي او امامت يعني په شرعي امورو كښې ددوي اتباع،چه دعالمانو ذمه داري شمارلې شي،دا به هم د امام مهدي وي۔ لكه څنګه چه داؤد عليه السلام اوسليمان عليه السلام سره نبوت اوخلافت دواړه وو۔ يا د موسیٰ عليه السلام اوهارون عليه السلام سره دواړه ذمه وارۍ وے۔ لكه څنګه چه طالوت عليه السلام په زمانه كښ حضرت طالوت عليه السلام بادشاه وواودوخت پيغمبرامام ووخو دامام مهدي به ناشنا شان وي دوي كښ به دواړه صفتونه وي۔په يو وخت كښې امام به هم وي اوخليفه هم۔ او دغه شان مسلمانان به يوموټې كړي۔

دامام مهدي دظهورد زمانې نه مخكښې چه دمسلمانانو په ذهنونوكښې به ددين كوم مطلب او خيالات وي په هغې چه به څومره خرابورواج بياموندي وي اوڅومره ظلمونواوبې انصافوكښې چه به دا امت اخته شوې وي چه دهغې نه پس به د قتل عام اودوينې بهيدو حالات به جوړ شي تر دې چه په الله وئيلواو اسلام قبلولوبه خلق قتل كړې شي۔دحالاتو جبر به دومره حد ته ورسي چه پوره دنيا به دظلم نه ډكه شي۔خو چه كله دالله رحم مسلمان امت ته متوجه شي

نو امام مهدي به راشي او ټوله مزکه به د عدل او انصاف نه ډکه کړي.اود ظلم نه ډکه علاقه روم به فتح کړي.د یورپ ظالمانه نظام به ختم شي او په دغه زمانه کښ د اسلام جهنډه به په ټوله نړۍ اوچته شي.هم په دے زمانه کښ به دجال راشي او د ظلم او ستم بازار به ګرم کړې.ددجال د خاتمې دپاره به عیسیٰ علیه السلام تشریف راوړي. دا شپږبنیادي علامات دي چه په هغې کښې زماني،مکاني،تشخیصي،سیاسي،تکویني او شرعي سرفهرست دي.

<u>ددجال کارکردګي او په موجوده زمانه کښې دهغهٔ طریقه کار</u>

سوال(۷):د دجال په باره که چرې د روایاتو جائزه واخستې شي نو دا پته لګي چه دنیا کښې به دجال د عامو خلقو په مابین کښې د راتلو انداز مختلف وي.د بعضې روایاتونه معلومیږي چه دې به د مصر په ښارقوص کښ پیدا کیږي.ځني روایاتو کښې د دجال د خوراک څښاک ذکر دے ځني کښ د ګرزیدو راګرځیدوذکر دے.په ځنې کښې د دجال د کعبي شریفي نه د طواف کولو ذکر دے.او بعضو کښې د ابنِ صیاد په شکل کښ تذکره شوي ده.په بعضي نورو روایاتو کښې داسي ذکر راغلي دے چه شیطانان اودجال به رازي او تاسو ته په جماعتونو کښ د دین خبري کوي.په بعضي روایاتو کښ د دجال په زنځیرونو ددتړلوذکر دے.اوپه آخره زمانه کښ به راؤوزي اوپه ټوله دنیا کښ به فساد خور کړي.او په مزه مزه به د خدائے دعوه وکړي او په مکه او مدینه کښې به د داخیلیدو ناکامیابه کوشش کولو ذکر دے.

سوال (۸):اوس پوښتنه داده چه په دي مختلفو روایاتو کښې د دجال په ډیرو شکلونوکښې راتلل څنګه ممکن کیدئ شي؟آیا دجال هم دشیطان په شان شخصیت دے او خپل ذریت لري که څنګه؟لکه څنګه چه حدیث شریف کښې دي چه ددجال نه مخکښې به دیرش دجالان راځي او هر یو به د نبوت دعوه کويَ یا د دي نه مراد ددجال پیروکار دي؟ او آیا یو کس چه په زنځیرونو کښ تړلي شوي وي څنګه مختلف قسمه کارونه کوي شي.

جواب:جواب نه مخکښ د تمهيد په توګه په دې خبره ځان پوهه کړئ چه څۀ رنګې قبر کښې کيښودو نه پس به د هر انسان نه تپوس کيږي او دې د پاره د نکير او منکر په نوم فرشتې به راځي،څنګه چه دا فرشته يوه ده او په يو وخت کښې په ټوله دنيا کښې خپل کارونه سر ته رسوي کيدئ شي هم دغسې طاقت الله پاک دجال له هم ورکړې وي-او څنګه چه هر کس ته په قبر کښ د نبي عليه السلام مخ مبارک ښودلې شي حالانکه دا نظاره په بے شماره ځايونو کښې کيږي دغه شان دجال له به هم د ډيرو کارونو طاقت ورکړئ شوې وي-
الله تعالي به دجال له د فطرت نه پورته د ډيرو کارونو طاقت د استدراج په طور ورکړې وي-څنګه چيې فرشتو،پيريانو او شيطانانو ته په ډيرو شکلونو کښې د راتلو صلاحيت ورکړے شوے دے-نو دغه شان دجال ته به هم داسې طاقتونه ورکړے شوي وي چه د انسانانو بے لاره کولودپاره به دا طاقتونه استعمالوي- يو سوال داهم دے چه شيطان ته خو دا دومره لوئي عمر او طاقت دآدم عليه السلام سره د بغض په وجه د امتحان په توګه ملاو شوې دے نو دجال ته به دا دومره قوت طاقت ولې ورکړې شوې وي؟
نو د دے جواب دادا دے چه قرآن وحديث کښې غور فکرنه پس دا خبره معلوميږي چه دجال به د سليمان عليه السلام په زمانه کښې د شيطانانو سره ملاو شو او د هغوي حکومت ته به ئ د نقصان رسولوکوشش کولو-نو الله تعالي سليمان عليه السلام ته د پيريانو د قابو کولو علم ورکړو-چه د هغې په وجه سليمان عليه السلام دوي نه مختلف کارونه اخستل شروع کړل-او چه کومو به انکار وکړونوخلق د هغوي دشر نه بچ کولو دپاره به يې په سمندرونوکښې قيد کړل-وآخرين مقرنين في الصفاد...اود صحيح مسلم په مقدمه کښې د عمرو بن العاصؓ په روايت کښې دي چه په آخره زمانه کښې به شيطانان راوځي او خلقوته به جماعتونو کښ دين ښائي-

دګمان په طور داهم وئيلې کيدئ شي چه سامري هم د فرعون دحکومت دمضبوطيا،د مصر داحرام تعميرات جوړولو،بني اسرائيلوکښې دفتنه او فساد پيداکولو اود موسیٰ او هارون عليهماالسلام باره کښې غلطې خبريې خورولوکښې ډير مخکښې مخکښې ووځوچه کله ئي په بني اسرائيلو کښ د بت پرستئ رواجولو کوشش وکړونو الله تعالي د موسیٰ عليه السلام په ژبه مبارکه هغۀ له دسزا په طور د ژوندي ساتلو وعده وفرمائله، وان لک موعدا لن تخلفه......ځنګه چه الله پاک شيطان له د انسانانو د آزمائش دپاره اوږد عمر ورکړے دے.وئيلي شي چه روستو زمانه کښ الله پاک د سليمان عليه السلام په لاس سامري د سمندر په جزيرو کښ قيد کړو.

اوس په دے خبره پوهيدل پکار دي چه څنګه د دنيا باره کښ فرمائيلي شوي دي چه."الدنيا سجن المؤمن وجنۃ الکافر"يعني دنيا د مومن دپاره قيد خانه او د کافر دپاره جنت دے.خو دا قيد خانه دالله تعالي احکامات منلو او دنفس دنافرمانئ په وجه داسي حالت پيش کوي چه لکه دا يو جيل وي او کافر دالله حکم نه مني او د نفس هر خواهش پوره کوي نو د هغۀ دپاره ګويا دا دنيا په ظاهره يو جنت او آزادي ده.حال دا دے چه په حقيقت کښ داسي نه ده.

او د دے دويم مثال دا دے چه په روژه کښ د نيک اعمالو د ماحول په وجه شيطانان په سمندرونوکښ وتړلي شي ځکه چي دکم خوراک په وجه دنفس اتباع نه کيږي.د ګناه ماحول نۀ وي نو نيکو طرف ته شوق زيات شي.خو که دکم خوراک باوجود يو سړي دنفس خبره مني او د ګناه ماحول نۀ وي خو بيا هم ځان دپاره پخپله دګناه ماحول جوړوي نو د هغۀ دپاره د دي خبري هيڅ فائده نشته چه شيطانان دي په سمندرونو کښ تړلے وي.ځکه چه سمندر کښ سرکشه شييطانان قيد وي عام شيطانان خو بياهم موجود وي.او د انسان په شکل کښ هم شيطانان موجود وي.

دغه شان د دجال د قيد ولو ذکر هم دے.نبي عليه السلام د امت په باره کښې چه د فتنو کومې پيشن ګوئي کړې دي د هغې مطلب دادے چه مونږ ځان د

دغې فتنو نه وساتو اونور خلق هم بچ کو.که چرې مونږځان او نور خلق دفتنو نه بچ نه کړل نو دا فتنې به دجال او د هغۀ نسل د قید نه آزاد کړي. ځکه چه د نیکو ماحول او د فتنو نه نجات په اصل کښې دجال او دجالي نظام په زنځیرونو کښې تړل دي. چه کله امت په فتنو کښې مبتلا شي نو دجال او د هغۀ کارندویه به ازاد شي دجالي نظام دپاره به کوششونه کوي او نیکان صالحان به قید کوي.او د دې مثال لکه چه په حدیث شریف کښې بیان شوي دے چه کله یو کس دروغ وائي نو درحمت فرښتې د هغۀ نه په میلونو لرې تختي اود بسم الله نه وئیلوپه وجه شیطان په خوراک څښاک کښې شریکیږي او بسم الله وئیلوونه پس التی کوي.او چه کله مؤمن ذکرکوي نو شیطان لرے تختي او چه ذکر نه کوي نوشیطان د دۀ په زړۀ خپل خړتم ورخکته کړي او سپیرۀ والي د دۀ په زړۀ کښې ورداخل کړي.دغه دا ئي هم فرمائیلي دي چه کله انسان د سحر مونز له پاڅي نو شیطان تري نه تختي او چه (مونز نه بغیر)واپس اودۀ شي نو شیطان د دۀ په غوږونو کښ متیازې کوي.

د دے روایاتونه معلومیږي چه د فرشتو تیښته د ګناهونوپه وجه او دشیطانانوراتګ د نیکو اعمالو د نیش والي او سپیرۀ توب په وجه دي.دغه شان د دجالي نظام قیام دخلا فت د سقوط په وجه دے.او دجال راتلل،دفتنو ډیروالي او د نیکو دلږوالي په وجه دے. تر دے حده پورے چه عالمان،جماتونه،بیت المقدس،حج او دمونزحقیقي روح او دشعائرو به خاتمه وشي.

ددے نه ثابتیږي چه په یو وخت کښې یو کس قید کیدې هم شي او آزاد هم.او د دجال حقیقي آزادي خو به د فتنو د تورو تیارو د خوریدوپه وخت کښې وي.البته نیمګړې آزادي به کله نه کله د مخصوص فتنو د ډیروالي په وجه وي.خو چه دا فتنې بندې شي نو دجال بیا قید کیدیشي،لکه څنګه چه د شیطان په باره کښ ډیرواحادیثونه ثابتیږي.

بیا داهم کیدیشي چه په یو وخت کښ به فتنې نه وي ولے تکویني طور به دجال ته د یو مخصوص وخت دپاره آزادي ملو شي لکه د بدر په غزاکښې چه شیطان په ډاګه ګرځیدو خو چه کله ئي د فرښتو نصرت په نظرراغلو نو وے وئیل،اني اریٰ ما لا ترون----

لکه څنګه چه د نیکانو صالحانو خلقوخپلو کښې رابطه وي هم دغه شان د شیطانانو او دهغوي هم خیال دجالي مخلوق هم مسلمانانو ته تکلیف رسولو دپاره رابطه وي.د الله جل شانه ارشادے،"وکذالک جعلنا لکل نبی عدو شیطین الجن والانس------او دغه شن مونږ دهر پیغمر دپاره مونږه د انسانانو او د پیریانو شیطانان دشمنان کړي دي چه یو بل له دهوکه ورکولو دپاره په ظاهره ښائسته او د دین نه د بیزارئ خبرې کوي لګیا وي.

د دے نور وضاحت دا دے چه څنګه د تیهه په میدان کښ آزاد وو.هغوي من وسلوی،دوریځو سوري،د جامو نه خیرنیدل او داسې نور ډیر نعمتونه،ولي بیا هم د تیهه دمیدان نه وتل دهغوي دجهاد نه دانکاراو موسیٰ علیه اللسلام ته رب جواب"فاذهب انت ربک فقاتلا----- ورکولو په وجه د سزا په طورسرګردان وو،یتیهون في الارض---خو دابندول او قید کول داسي وو لکه څنګه چه یاجوج ماجوج د بندیدوباوجود د مهذب قومونو(روس،چین،ترک او منګول) په شکل کښې لړلړ.راوځي او نیکان خلق پریشانه کوي او آخره زمانه کښ به ټول راوځي.څنګه چه حدیث شریف دے چه دیاجوج ماجوج په دیوال کښې سوري شوے دے. معلومه شوه چه دوي د دغے سوري نه راوځي نو دنورو انسانانو په شان به دنیاکښې آباد شي.

هم په دے انځورکښې که د هغه احادیثو مطالعه وکړي شي د کومو مطابق چه شیطانان په فضا،هوا اوسمندرونو کښې بغیر د څۀ رکاوټ نه سفر کوي.خو دنیا کښې د فتنو دډیر والي په وجه د دجال پیروکار به زیات شي نو د دې طاقتونو نه زیات طاقتونه به دجال سره وي چه په هغې کښې د هواګانوقابو کول،څوک ناروغه کول،څوک روغول،چاله خزانې

ورکول،څوک په ظاهره جنت کښې اوڅوک په دوزخ کښې ساتل او څوک مړکول او څوک ژوندي کول،دا ټول په دجالي قوتونو کښ شامل دي۔والله اعلم باالصواب

سوال (۹):د امام مهدي د ظاهريدو نه پس به د دنيا دمسلمانانو څۀ حالت وي او په دغه وخت کښې به دنيا کښې څۀ حال وي؟

جواب:دامام مهدي د ظاهريدو نه پس به د ټولې دنيا معتدل انسانان که هرې فرقې،تنظيم،مسلک او مذهب سره تعلق ساتي،هغوي به دامام مهدي په قيادت متفق شي او د کفر سره به جنګ شروع کړي۔ددوي په مقابله به د کافرانو يوه ډله وي،څنګه چه په حديث کښې فرمائيلي شوي دي،**حتی يصيرالناس الي فسطاطين،فسطاط ايمان لانفاق فيه وفسطاط نفاق لايمان فيه"**يعني مسلمانان به دوه ډلوکښ تقسيم شي۔يعني منافقه ډله به ختم شي داسې به نه وي چه ايمان هم وي او کفرهم۔

يو متواتر روايت داهم دے چه يو جماعت به دحق د غلبې دپاره جنګيږي تر دي چه دهغې آخري حصه به د دجال سره وجنګيږي"د دې روايت نه داهم معلوميږي چه د دجال دراتلو پورے به يوه ډله د هر قسم منافقت نه پاکه وي او د اعلائے کلمت الله دپاره به جنګيږي۔ددي نه مخکښې دا خبره معلومه شوه چه اخلاص مند مسلمانان به د امام مهدي په مشرئ کې راوځی او د کفري طاقتونو سره به وجنګيږي۔يو خبره داهم معلومه شوه چه دا امت د خير امت دے۔د خير امت معنی داده چه جهاد،قتال او ددين نور محنتونه به کوي او عملاًبه دحق ملګرتيا کوي۔په دے وجه ددے امت اجماع معتبر ده۔څنګه چې فرمائيلي شوي دي چه"**وکذالک جعلنکم امتا وسطا"**اوداچه **"لاتجتمع امتي علي الضلاله"**،دي نه معلومه شوه چه دا امت مجموعي طورپه دوکه (دجل او فريب)کښې نه شي پريوتې۔دا نۀ شي کيدے چه پوره امر په کفر متفق شي بلکه په هره زمانه کښې به ځني خلق داسې وي چه د کفر او فسق په مقابله کښې به هميشه د دليل او حجت په اعتبار سره غالب وي۔د هغوي قول او فعل

به دحق دتائيداو نصرت دپاره وي.دغه شان په اعتبارسره هم الله رب العزت دا دين غالب ساتي.

سوال(٠):په موجوده زمانه کښې د ډيرواړخونو نه به دامام مهدي د ظهور دعوې کيږي،نوپه دې کښې د رشتيني مهدي پيژندګلوبه څنګه کيږي؟

جواب:قرآن وحديث کښۀ درشتيني امام مهدي د پيژنګلو دپاره بيان شوي صفات او علامات داسې لوئے لوئے نښې دي چه د هغې په موجودګئ کښې به دا وئيلې شي چه دا رشتيني مهدي دے.او په دے کښې د ټولو نه لويه نښه داده چه د امام مهدي په زمانه کښې به شريعت پوره پوره نافذ وي يورپ به غونډفتح شي،هم دې زمانه کښې به دجال راشي او ددجال د قتل دپاره به حضرت عيسیٰ عليه السلام راکوز شي.

سوال( ):ځمونږ په خيال کښې يو خبره ده چه د امام مهدي په زمانه کښې به د هغوي د رشتينوالي دپاره دآسمان نه يو آواز کيږي اودې سره به فرشتې هم وي،نو آيادا خبره د احاديثو نه ثابته ده؟

جواب: جواب:داد بني اسرائيلو تصوردے چه هغوي به دهر يوڅيزحقانيت د مافوق الفطرت څيزونو سره تړلو.اوس زمونږمسلمانان هم دا غوښتنې کوي.څنګه چه يهدويانومطالبه کړے وه،"**حتی تاتينا بقربان تاکله النار**"يعني ترڅو چه اورراکوزشي او زمونږقرباني اونۀ سوزوي،تر هغې وخته پورے مونږ ددے حقيقي خبرې تصديق نۀ شو کولے.په يو بل ځې کښې ارشاد دے چه،"**يسئلک اهل الکتاب ان تنزل علينا کتابا من السماء**"يعني اهل کتاب ستا نه مطالبه کوي چه د آسمان نه په مونږکتاب نازل که!خو کله چه به دهغوي نه دعمل اوخاص کر دجهاد مطالبه وشوه نودوي به وئيل،"**فاذهب انت وربک فقاتلاانا ههنا قاعدون**"يعني حضرت موسیٰ عليه السلام ته ئې وئيل چه تۀ پخپله لاړشه اوستا رب دے لاړشي.تاسو وجنګيږئ او مونږ به دلته ناست يو.هم دغه شان صورت حال نن زمونږ هم دے.

هر کله چه دنبي علیه السلام دتائید دپاره فرشتې راکوزې نۀ شي چه خلقو دا د الله پیغبردے۔ بلکه حکم داوو چه په غیبو یقین وکئ۔ دغه شان د سیدنا ابوبکرؓدخلافت دتائیددپاره نه خود آسمان نه آواز شوې وواو نۀ فرشتې د آسمان نه راکوزے شوې وي۔نو هم دغه شان د امام مهدي علیه الرضوان د تائید دپاره به په ظاهره د عامو خلقو دپاره نۀ خو آسماني آواز کیږي نه به دهغوي د تصدیق دپاره فرشتې راکوزیږي۔البته په بعضو روایاتو کښې دظهورمهدي سره متعلق د آوازونو ذکر راغلې دے۔نوددے نه مراد هغه آوازونه دي چه لکه څنګه چه قبر آواز کوي چه زه د چینجو کور ئم یا د آسمان نه یو فرښته اعلان کوي چه یا الله خرچ کونکوته زیاته ورکړے اود شومانومال کم کړے۔او څنګه چه په لیلة القدر کښ جبریل علیه السلام راکوزیږي او عبادت ګزارخلقو سره لاسونه ملاوي۔نو دامام مهدي علیه الرضوان باره کښې چه کوم ذکر شوے آثاردي د هغي نه هم دغه مراد کیدئ شي۔

بیاهم الله رب العزت ددي امت دپاره خاص کر په آخره زمانه کښ دامام مهدي امداد کونکو خوش قسمتودپاره د یقین هغه عظیم نعمت ورکړے دے چه هغوي به دامام مهدي د تصدیق دپاره د فرښتو دنازیلیدو او دآسماني آوازونو مطالبه نۀ کوي۔بلکه د شریعت په ظاهري اصولوپوره کیدونکي او د باطني ګناهونونه دپاک شخصیت چه کله انتخاب وشي اوپه دغه زمانه کښې مکاني، زماني او سیاسي نښې موجود وي او تکویني طورهم صورت حال برابرشي او اهلِ حل وعقدعلمائے کرام دامام مهدي په بیعت متفق شي نودالامام مهدي دے او ددۀ اتباع فرض ده۔

سوال:(۱۲)دا علمائے سبعه یا اهل وعقد کوم خلق دی؟

جواب:دا به هغه خلق وی چه د امام مهدی د راتلو نه مخښکےددین دنوروشعبو سره به دهغه د کمک اوملګرتیاد پاره به خلق تیاروی۔دامام مهدی بیعت د پاره خلق تیارولو والا هر کس به غلمائے سبعه وی،لکه څنګه چه د

دنیا په نورو کارونوکښې څوک وړومبي نه کوم کار کوی هغه د دهغي کار جوګه وی،جنتی هغه وی چه ژوند کښ جنت د پاره عمل کوی،هم دا رنګ کم څوک چه د دعوت کار کوی ته تبلیغی وائی هم دغه رنګ د مهدی راتلو نه وړاندې چه څوک خلق د امام مهدی د بیعت د پاره تیاروی هم هغه کس د امام مهدی د نصرت جوګه وی-

د امام دراتګ نه وړاندې ددنیا تکوینی حالاتو خرابیدل او دبیعت مهدی د پاره زمونږ ذمه داریانې:

سوال( ): د امام مهدی راتګ نه وړاندې تکوینی توګه باندې د دنیا حالات خرابیدل او په دې لړ کښې راتلونکي بدلون د حدیثو په رڼا کښې وضاحت وکړي؟

جواب:تکوینی توګه باندې حالات خرابیدومطلب دې موسمی بدلون،فضائی بدلون،سمندری بدلون اونور معاشی اومعاشرتی بدلون راښکاراشی-مثلاً موسم بدلون باره کښې روایت ذکر شوي د ضرورت په وخت به باران نه کیږی،مګر چې ضرورت نه وی باران به ډیر کیږی او د فائدې په ځائے نقصان ډیروی-

یو علامت دا بیان شوې دي چه د مهدی درا تلو نه مخکښې دنمر رختو سره یو نخښه راښکارا شی،بعضو روایاتو کښې دی چه په شام کښې به نه ختمیدودجنګ فتنه شروع شي او د دوران کښې به د آسمان نه دلاس په شکل کښې یوه نخښه ښکارا شي چه اشاره به کوی-۲۰۱۵کښ دامریکي فلکیاتی اداري ناسا نه یو خبر شائع شوي وو چه دمشرق طرف نه د لاس په شکل کښې د کهکشاؤو یو جرمټ اشاره کوله –بعض آثارو کښې راغلي دی چه د ګرمي موسم کښې ګرم علاقو کښې یخني او یخو علاقو کښې به ګرمي وي-هم دغه شان د سیلابونو تذکره هم رویاتو کښې راغلي دی،د ذکر شو علاماتو دپورا کیدو ننداره موږ په موجوده وخت کوؤ-

صحاح سته کښې دي چه دعرب په زمکه باندې چرته چه صحراګانې دی هلته به باغونه او فصلونه کرل شروع شي-او بعضو روایاتو کښې دی چه دولت دومره زیات شي چه یو مزدور به د ورځ په سل دینار مزدري اخستلو خفه وی-د مکي په زمکه به ډ یرسرنګونه وی-او بعضو روایاتو کښې دی چه دعرب مفلس خلق به دنګ دنګ عمارتونه جوړ کړي-مکه مکرمه کښې جبل ابی قبیس اونورغرونه به دخپل ځائې نه لر شي-روایاتو کښې دي چه د ې ټولو سهولتونو باوجود دعرب خلق به بت پرستي شروع کړي،او په دوي کښې ښځي د ګډا وسندرواهتمام کوی،لکه څنګه چه د دبئي په سړکونوباند لګیدل دی او عربو ملکونو کښې وس مختلف ځایونو کښې سندري ګډاګاني ډیرې دي- یو روایت کښې دې چه اهل حضر یعني د جدې خلق به دوباره د عرب په زمکه باندې بت ولګوی ۲۰۱۹ کښ په جده او ریاض کښې څۀ بتان لګیدلی دی-یو روایت کښې دی چه دفضا نه به فتنې راوریږی لکه انټرنټ او سټلائټ د راتلو نه پس دا علامات خلق په خپلو سترګو وینی-
دصحیحین په روایت کښې دی چه د مدینې په مشرق د نجد دقبیله ربیعه ساربانو(اوښانوسرونکی)کښې به قرن الشیطن راپیدا شی،چه موجوده دور ریاض کښې د دي ډیر مطلبونه کیېدي شی،چه په دي قرن یعنی شیطانی طرز حکومت یوه صدیٔ هم کیدي شی او یو مطلب دا چه د خلافت عثمانیه په ختمولو کښې اهم کردار ادا کولو والا نجد یعني درياض آل سعود خاندان بغیردځه تاویل په هغوي منطبق کیدې شي،ځکه چه په دي حدیث کښې دنفس الرحمان د راتلو ذکر شوې دي او د دے حدیث په یو طریق کښې فرمائیلی دی:**الهم بارک لنا فی یمننا** اے الله ځمونږیمن کښې برکت واچې او کله چه دهغوی صلي الله علیه و سلم نه د مشرق ، قبیله ربیعه او نجد باره کښې تپوس وشونو هغوي وفرمائیل چه دے ځائے نه به د شیطان ښکر راښکاره کیږي- که تاریخ وګوري نو معلومیږي چه نجد ریاض ته مخښکښې چه کله هم حکومت نه دې ملاؤ شوي,لیکن که دي نه نجد عراق مطلب واخستلې شي

اویا نجد ریاض مطلب واخستلې شي نو هيڅ فرق نشته ځکه چه دواړو علاقو نه فتنې را وتې دی,دیمامه د قبیله ربیعه نه د مرتدینو فتنه راوتې ده او آل سعود هم د قبیله ربیعه سره تعلق لرلو والا د یمامه او نجد اوسیدونکی دی-

د قرن الشیطان نه مطلب د شیطان د ښکرو تابعداري هم کیدې شي یعني دمحرماتو ارتکاب او د فرائضو وغیره پریخودل هم په دې کښې شامل دی او د شعائرالله بے حرمتي هم مراد ده،محرمات کښې د ټولو نه زیات محرم شراب،زنا،بلادالحرمین،د کعبه او مدینه منوره،مساجد او علمائے کرام دي،نو د شرابو نوم بدلول سره شراب حلالو او استعمالول،مسلمانانو کے بے حیائی خورول،بلادالحرمین کښې درقص او سرود محفلونه،د علمائے کرام او دیندار خلقو بے عزتی کول،او د بے دین ،فساق فجار وغیره خلقو عزت ،درناوے او هغوی په لوئے لوئے عهدو باندے مقررول-

قرن الشیطان نه یو مطلب دا هم کیدے شی په یو حدیث کے دی چه د نمر راختو او پریوتو په وخت کښې شیطان خپل ښکر د نمر سره یو ځائے کوی چه د دے عبادت کولو والا ته دا ظاهر شی چه نمر راخیژولو او ډوبولو والا، ابلیس دے،نو دغه شان به قرب قیامت کښې د مشرق قبیله ربیعه د خلقو یو خاندان ته به حکومت ملاؤ شی،د هغوی سره به شیطان د ښکرو په شان نظام وی او د هغے په ذریعه به په خلقو حکومت قائم کړی او خپل ظالمانه طریقے به نافذ کړی اودالله نظام خلافت به ختم کړی او دشیطانی ښکرو کفری نظام بہ قائم کړی-

قرن الشیطان نه مراد د سعودی عرب ښار نجد یعنی ریاض کښې نصب شده میزائل سستم دے،چه دا به په خوا ؤشا اسلامی ملکونو کښې د امریکے عمل داری یقینی کولو د پاره استعمالولے شی-

د نمر راختو سره یو نخښه دوالدینو بے عزتی او هغوی کم تر ګڼل هم کیدے شی،لکه یو حدیث دے:

ان تلد الامة ربتها ترجمه:چه دمور نه به خپله مالکه پیدا شي ،یعنی د دنیا ہر ځیز به الټا شی،د حکمرانۍ باره کې بل حدیث دے:**اذا وسد الامر الی غیره فنتظر الساعة:**ترجمه:کله چه تاسو ووینے چه د حکومت اختیار نا اہله خلقو ته ملاؤ شی،نو د قیامت انتاظر کوئ-دغه شان به عمائے کرام کے تقویٰ ختمه شی او علما به دیند دنیا ګټلو د پاره حاصلوی-او دنیا کښې به د ټولو خراب خلق علما وی،ددوی نه به فتنے راوځی-

دنمر سره د یو نخښے راوتو یو مطلب دا هم کیدے شی چه کفری نظام به مکمل غالب شی او اسلامی نظام به ختم شی،د دے نه پس به د خلقو د کورونو نه به اسلام هم ووځي،ښځو به لباس اغوستے وي خو لغړے به ښکاري،سړی به خپل خواهش دسړو نه پورا کوی او ښځې به خپل خواهش د ښځو سره پورا کوی، زنا به عام کهولاؤ کیږی، دښځو سرونه به د بختي اوښانو په شان اوچت وی ،ښځې سړي به یو ځائے کارونه کوی،ښځې به خپل حمل ختمولو کښ هیڅ پرواه نه کوی،او په مزه مزه به دین ناآشنا شی او دیندار خلقو ته به خلق سپک ګوری او مسلمان ملکونو کښ په دین عمل کول به په لاسونو کښې بلې سکروټې نیول وی-حاکمان به صرف هغه خلق ژوندی پریږدي ځوک چه دهغوی دهر حکم تابعداری کوی-او د کفارو ملکونو کښې به د مسلمانانو ژوند ګران شی,صرف دالله په نوم اخستو به دمسلمانانو د وینو سیلابونه بیولئ شی او هغوی به بندیوانولې شی-

سوال:(۴):امام مهدی چه په کوم کال ظهور کیږي په هغه کال به خلق بغیرد امام حج کوی او دغه کال نه په منیٰ کښې خونریزی کیږی د دے حدیث څه حیثیت دے او ددے څه دلیل دے او په موجوده وخت کښ بغیر د امام نه حج ته تګ څه مطلب دے او په منیٰ کښ خون ریزی څه تحقیق دے؟

جواب:دحدیثو په کتابونو کښ دا حدیث په درے طریقو مروی دے په دے کښې یو حدیث نعیم بن حماد نه کتاب الفتن کښ حدیث نمبر۹۸٦ باندے نقل

دے امام مستدرک کښ په حدیث نمبر۸۵۳۷باندے نقل کوی،او ددے سند د عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده نه مري دے،ددے حدیث حاصل دا دے چه په ذی قعده کښ به د قبائلو په مینځ کښې ډلې جوړے شی، د هغے په وجه به حاجیان واپس شی او په منیٰ کښې به خون ریز جنګ وشی چه په هغے کښې به د مړو شمیر زیات شی په د جنګونو کښې به دومره وینه توی شی چه وینه به جمره عقبه ته ورسی- ددے حدیث سند باره کښې محدیثین وائی چه ددے حدیث سند مکذوب دے-

بل حدیث هم دنعیم بن حماد په کتاب الفتن کښې په حدیث نمبر۹۸۷ باندے مروي دے او مستدرک نه هم دا حدیث په حدیث نمبر۸۶۷۳ باندے نقل دے،دا حدیث هم عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده د سند نه مروي دے په دے حدیث کښې د ذی قعده او محرم وغیره ذکر نه دے شوے او نه په کښې د قبائلو د ګروه بندئ ذکر شوے د دے حدیث حاصل دا دے چه **یحج الناس معا یعرفون معا** چه خلق به حج یو ځائے کوي او یو ځائے به په عرفه کښې وقوف کوی دا کار به بغیر د امام کوی ،**بینماهم بمنیٰ** دے دوران کښې به دوي په منیٰ کښې وی-اذا اخذهم کاالکلب ددی په مینځ کښې به جنګ د یو داسے مصیبت په شکل کښې راشي لکه څنګه چه د سپی په چیچلو سره مصیبت راځي،لکه څنګه چه سپئ څوک وچیچی یا بل سپئ وچیچی او هغه بیماري ډیره زر خوریږي دغه شان په تیزئ سره به فساد شروع شي او قبائل به خپل منځ کښې په یو بل حملے وکړي او د یو بل وینے به توي کړي ، نو هغوي به یو داسے سړي خوا له راشي چه په دے وخت کښې به د ټولو خلقو بهتر وی-ددے حدیث سند ته هم محدیثینو متروک او ساقط وائي-

دریم حدیث هم نعیم بن حماد په کتاب الفتن کښې په حدیث نمبر ۹۹۳باندے دعبدالله بن عمرو بن عاص □ نه نقل کړے دے،د دے حدیث سند د مخکښې

دوو حديثو په مقابله کښې لږ بهتر دے،مګر دا حديث هم د څه راويانو په وجه ضعيف دے-
د دے حديث په نظر که څوک دا دليل وائي چه په کوم کال په منیٰ کښې خون ريزي کيږي دغه کال به مهدي له خلق راځي او دغه کال به بيعت کيږي, ځکه چه په حديث کښې ټوله واقعه تفصيل سره ذکر شوے ده مګر په دے حديث کښې اختلاف دے،ځکه چه په ډير احاديثو کښې مختلف واقعات يو ځائے ذکر شوي دي او په دے کښې په ظاهر کښې يو بل پسے نزدے ښکاري ،خو اصل کښې داسے نه ده بلکه په دے ډير کلونو فاصله ده په دے حديث کښ هم دغه وقفه مطلب کيدے شي-
دويمه خبره:بغير د امام حج کولو مطلب؟
د حديث د سبق نه معلوميږي چه خلق به بغيرد امام حج کوی دا به مسلسل وي چه خلق به څوکاله بغير د امام حج کوي-
دامام نه مطلب هغه سړے دے چه په هغه د ټولے دنيا مسلمانان يا ډير مسلمانان متفق وي او هغه د مسلمانانو دمونځ روژے ،حدود و قصاص او نورو ديني احکاماتو سره سره د جهاد او قتال وغيره امور هم سنبهالوي-د تيرو سلو کالو راسے داسے امام نششته،بلکه مسلمانان په خپل منځ کښې بے اتفاقه او په جنګ جګړو کښې اخته دي-
لکه څنګه چه حضرت ابوبکر اوحضرت علي نبی کريم ﷺ د حج امامان جوړ کړی او ليږلي وو او د دوي په نګرانئ کښې معاهدے شوے وے او د حج ارکان به ادا کيدل او دا مسلسل د هغه وخت نه د خليفه يا د سلطان په نګرانئ کښې اداکولے شي-موجوده دور کښې اګر چه د سعودي عرب حکومت
دے او هغوي د دے د انتظامی امور و د پاره دحج وزارت جوړ کړے دے،او د ډير فسق و فجور باوجود هم د امت علما دا برداشت کوي،مګر جزيرة العرب کښې د امريکي،او کفري افوج د راتلو نه پس د يهود سره

تعلقات، د عرب اسلامي ملکونو خلاف روانه لشکر کشي کښې مجرمانه خاموشي او بلادالحرمين کښې بے حيائی،بتان لګول، علمائے کرام بے ګناه قيد وبند کښې اچول او نور ډيرحرام کارونه حلالول، د دے په وجه وس د شريعت په رڼا کښې ددوی حيثيت ديوپه زور راغلے ظالم حکمران دے،د ته په شريعت کښې خليفه يا امام نشي وئيلے او نه ورته عادل سلطان وئيلے شي-

او د حج او عمرے په انتظاماتو کښې د شرعی امورو خلاف ورزی،حجيانو نو مختلف ټيکسونه اخستل او بغيرضرورت پابنديانے لګولو په وجه وس دوی ته مجلس منتظمه وئيل هم صحيح نه دی- نو په دے حديث کښې ذکرکړے شوے ټولے نخښے په نظر راځی او نور روايات هم د دے حديث تائيد کوي،

دغه شان دډيرو صحيح،حسن او ضعيف احاديثو په رڼا کښې مونږ وئيلو شو چه د صحيح مسلم په روايت کښې د کفري فوځونو دعراق او شام محاصرے نشاني پورا شوه-دطبراني روايت کښې ايران عراق جنګ،دے نه پس عراق او کويت جنګ او بيا د اقوام متحده د ارکان له طرف نه دعراق سره اقتصادي پابندئ هم ولګولې شوے-کتاب الفتن نعيم بن حماد په نظر کښې دخراسان نه د تورو جنډوراتلل او عراق کښې جنګ کول بيا شام کښې د جنګونو سلسله د نه پس د تورو جنډو د زيړو جنډو سره جنګ او بيا د تورو جنډو خپل منځ کښې جنګ کول او دغه شان د اهل يمن د جزيرة العرب نه ويستل او بيا په هغوي جنګ راوستل او فلسطين کښې د يهودو تعداد او غلبه د اټول علامتونه،دقبائلو خپل منځ کښې دجنګ وجه وګرزيده او د خليج ملکونو خپل منځ کښې جنګ جګړے او خپل منځ کښې يو بل باندے پابنديانے لګول او بلاد الحرمين کښې د سعودی خاندان خپل منځ سياسي شخړے اوخپل منځ کښې جګړے وغيره امور ديو لوئے بدلون علامت دے-

د شاه عبدالله د مرگ نه مخکښې لړ اختلافات او بیا د هغه د مرگ نه پس معتب بن عبدالله بندي کول او محمد بن نائف ولي عهد او محمد بن سلمان نائب ولي عهد جوړول او بیا محمد بن نائف لرکول او محمد بن سلمان ته د ملک ټول معاملات حواله کول سیاسي توګه باندے شاهي خاندان کښې دشخړو د بنیاد ښکاره علامت دے او په دے وخت ایرانی ،لبناني او شیعیه حاجیانو د اهل سنت دحاجیانو سره په منیٰ کښې جنګ کول او دے کال د کعبے په حدودو کښې یو لوئے کرین راغورزیدل او په سونو حاجیانو په وینو بیت الله سور کیدل د دے روایت په سند کښ موجوده ضعف خو نه شی ختمولے ،لیکن د عبارت تحسین ضرور کوي که دا علامت پورا شي او په دے دوران کښې دامام مهدي د بیعت دپاره علمائے کرام تشریف راوړي او د امام مهدي بیعت وشي نو مونږ وئیلے شو چه د حدیث د متن په اعتبارسره د دلیل ووړ دے،خو د وس نه دا بنیاد جوړول دا وئیل چه د امام مهدي ظهور به کیږي او دغه کال به منیٰ خون ریزي کیږي او په دغه کال به خلق بغیر د امام نه حج کوي او دغه کال به د بادشاه مرگ راځي او په دغه کال به د قبائلو منځ کښې جنګ کیږي او په دغه کال به د امام مهدي په لاس بیعت کیږي- دا استدلال کول په ظاهره گران ښکاري-

دا د مهدي دا راتلو علامت دے چه په منیٰ کښې به خون ریزي کیږي او په دغه کال به بیعت کیږي او په دغه کال به بغیرد امام حج کیږي- دا خبرے اخستل مشکل نه دی امام هغه وی چا سره چه خلق ملگري وي لکه څنګه چه ابوبکر امام وو نبی کریمﷺ هغه دحج امام جوړ کړو او ولیږلو ئي نو د هغه په امامت کښ نگرانی وشوه او د هغه په امامت کښې حج کیدو نو موجوده وخت کښې اگر چه د حج وزارت دے نو هغه آیا شرعی امام دے ،آیا شرعی خلیفه دے یا شرعی اعتبار سره ښغه ته مونږ خلیفه یا امام وئیلے شو په دغه وجه دا حدیث اخستل او دا حدیث په دلیل سره پیش کول چه دا د امام مهدي د راتلو علامت دے دا د مهدی د راتلو علامت نه دے د اما مهدی

د راتلو نه به مخکښې د صحيح احاديثو په تناظر کښې يا حسن يا ضعيف احاديثو په تناظر کښې دا علامات خو به مونږ واخلو-والله اعلم بالصواب
سوال(۱۵): دامام مهدي نصرت کولو واله مدد کونکي خلق به څوک وی او په موجوده وخت کښې به د دوي بنيادي خصوصيات به څه وي؟
جواب: دجواب نه مخکښې د تمهيد په طور يو څو خبرے پيژندل ضروري دي:
اوله خبره:د احاديث مبارکو نه ثابت دی چه د امام مهدي کمک کولو واله تعلق به قيامت ته نزدے د بنو عباس د تورو جهنډو نه ورستو دخراسان د تورو جهنډو واله نه وي او د نعيم بن حماد په کتاب الفتن کښې ددے جهنډو عراق او کوفے طرف ته تلل ، بيا ددے جهنډو شام طرف ته تلل او بيا بقية العرقد يعني جنت البقيع طرف ته د تلو تذکره هم بعضو رواياتو کښې شته دے-
دويمه خبره:قيامت ته نزدے د دے تورو جهنډو عراق او شام کښې يو بل سره سخت اختلافات شروع شي،او بيا به د دوي په منځ کښې جنګ وشي-
دريمه خبره: د يو روايت نه معلوميږي چه کله تورو جهنډو واله خپل منځ کښې جنګ وکړي نو په د دوران کښې به د امام مهدي په دے دواړو کښې چا سره هم تعلق نه ساتي-د مخکښنی سوالونو جوابونو او موجوده حالاتو په نظر کښې که مونږ وګورو نو د عراق او شام د هالاتو نه پس وس د امام مهدي راتګ نزدے ښکاري-د دے سوال جواب په حقله زما عرض دادے که دا وخت شام او عراق باندے نظر وکړے نو دا معلوميږی چه د افغان په زمکه د عرب مجاهدين د سعودي عرب او نورو ملکونو نه راغلی او امريکے هغوي ته د روس خلاف جهاد کولو اجازت ورکړو او خپلو ملکونو هم هغوي له اجازت ورکړو او افغانستان ته راغلل او دلته د روس خلاف ئي جهاد وکړو او فتح ئي حاصل کړه-
ايران کښې د خميني انقلاب نه پس عراق ايران جنګ شروع شو،نو

عرب د امریکے په حمایت سره د ایران خلاف لس کاله وجنګیدل،په دے جنګ کښې ایران عراق دواړو سره مسلمان او غیرو ملکونو او د هغوي عوامو یو ځائے دا جنګ وکړو-
۹۸۸ ۱ءکښې چه ایران عراق جنګ ختم شو نو په کال د افغانستان جنګ هم ختم شو،دے نه پس عراق په کویت حمله وکړه او بیا عرب ملکونو د عراق سره بائیکاټ وکړو او د اقوام متحده امن فوځ راغلو اود عراق فوځ ئي دکویت نه بهر کړو او بیا د یمن نه علاوه ټولے دنیا،په عراق باندے اقتصاد او معیشت پابندی ولګوله-په دا رنګ افغانستان کښې هم د مجاهدینو په منځ کښې جنګ شروع شو-عرب مجاهدین که څه د مخالفو ډلو سره یو ځائے شو او بعضو جنګ کولو انکار وکړو او خپل ملکونو ته لاړل،په دے کښې اسامه بن لادن هم وو-
شیخ اسامه بن لادن به که سعودي عرب ته تلو او کله به واپس راتلو،په دے دوران کښې کله چه جزیرة العرب کفار فوځونه راغلل،نو هغه اخرجوالیهود والنصاریٰ من جزیرة العرب واله فتویٰ په حق کښې آواز اوچت کوو، دے نه پس په هغه پابندي ولګیدله او هلته نه افغانستان ته راغے او بیا د هلته نه سوډان ته لاړو-سوډان نه واپس افغانستان ته راغے،په دے وخت د طالبانو حکومت جوړ شو،نو هغه د طالبانو دامیر المؤمنین په لاس بیعت وکړو-
۱۱ستمبر ۲۰۰۱ء واقعات وشو،دےنه پس امرپه افغانستان حمله وکړه-دلته مونږ ګورو چه امریکے په افغانستان حمله ولے وکړه د دے څه وجه وه؟ ښکاره خبره دا چه ملا عمر مجاهد اسامه بن لادن امریکے ته حواله کولو نه انکار وکړو یعنی د سپینو جهنډو امیر د تورو جهنډو امیر دکفر سردار امریکے ته حوله کولو نه انکار وکړو نو امریکے د تورو سره سپینو جهنډو واله باندے هم حمله وکړه-
وس دلته د دے سوال کولو حاجت نشته چه حدیث کښې د تورو جهنډو

ذکر دے او د افغانستان د مجاهدینو سپینے جهندے دی،نو د امریکے حملے نه معلومه شوه چه د دواړو جهنډو مقصد یو دے،هم په دغه وجه امریکے د تورو جهنډو د پاره د سپینو جهډو حکومت ختم کړو اوفغانی طالبانو د دے فرقڅه پرواه ونه کړه بلکه د هغوی بیعت ئي قبول کړے وو او په دغه وجه ئي خپل یو حصه ګنله او د دے د پاره ئي د شلو کاله جنګ خوښ کړو،لیکن په خپل بیعت کښ وسیدو واله تورو جهنډو امیر ئي امریکے ته حواله نه کړو-ښکاره خبره وه چه دواړه د نظریه جهاد په ذریعه دپه زمکه مخ باندے اسلامی احکامات بطور قانون نافذکول غوختل،څکه دواړو یو مقصد او منزل وو-

۲۰۰۳ءکښي چه په عراق حمله وشوه نو افغانستا ن ته راغلی عرب مجاہدین عراق ته لاړل او د ابو مصعب الزقاوی په قیادت کښي دامریکے خلاف جہاد شروع کړو،د ابو مصعب الزقاوی د شهادت نه پس ابو عمرو المهاجر او ابو حمزه المهاجر یو بل پسے د زرقاویؒ نائب جوړ شول او هغوي هلته"الدولۃ الاسلامیہ"بنیاد کیښود-ددے دواړو د شهادت نه پس ابو بکر البغدادی دا تنظیم په یو بل عرض استعمال کړو او په آخره کښي د عراق او شام د تورو جهنډو په منځ کښي اختلافات شروع شول-

د تورو جهنډو په منځ کښ اختلافات باره کښي روایات او آثار و ذکـر تفصیل سره موجود دے چه د هغے نه معلومیږی چه په تورو جهنډو کښ به یو قسم د ګمراهے خورولو حصه اخلی او دویم قسم تورے جهنډے به هدایت یافته وی-

په دے وجه څنګه چه په نورو کارونو کښي حق او باطل پیژندل دقرآن او سنت په رڼا کښي او د شریعت مطهره باندے سره عمل کولو باندے دی،چه کوم سرے یا تنظیم داسے وی، نو هغه به په حق وی او کوم چه دے نه خلاف وي ،حغه به باطل وی- نو څکه په موجوده وخت کښي صرف تورے جهنډے واله سرے یا تنظیم د هغه د حق کیدو دپاره کافی نه دی،بلکه د دے

سره سره د هق ملګرتیا او مکمل طور د شریعت پابندی کولو او د کفر سره جنګ کول ضروری دی-

سوال:(٦):آیا په مختلف روایاتو کښ د امام مهدی مدد کولو واله کښې شام او یمن د لښکرو شته یا دے نه علاوه د نورو علاقو ذکر هم پکښې شته؟

جواب:د امام مهدی کمک ته راتلو واله باره کښې مختلف روایات دی، دحضرت علی□ په روایت کښې دی چه د امام مهدی دکمک د پاره به د یمن عدن ابین نه به ۱۵۰۰۰ خلق راځی- او دوی به ځان سره کړی او امام مهدی به دبنو کلب سره اول جنګ کوی-چه کله د امام مهدی مخالف لښکر د بیدا په میدان کښې په زمکه دننه شی او د امام مهدی مستقل حکومت جوړ شی،نو دے نه پس به د امام مهدی د مدد کولو د پاره عراق نه عصائب الاعراق،مصر نه جنائب مصر،شام نه ابدال االشام او او د نورے دنیا د علاقو باره کښې روایت کښې فرمائی:**من کل بلد صالح** تذکره ده یعنی د هر یو علاقے نه صالح خلق به شرکت کو(۷۰) زره خلق راځی او د بنو اسحاق نه مراد پښتانه دی چه د حضرت ابراہیم علیہ السلام د نسل نه دی-والله اعلم باالصواب-لیکن دا ټولے خبرے چه د علمائے سبعه باره کښې دی او د بنو اسحاق باره کښې دی،دا تحقیقی نه دیتقدیری دی ممکن دا چه دے نه مراد افغان طالبان وی،کیدے نور خلق وی-والله اعلم بالصواب

سوال(۱۷) :امام مهد ی به په کومه زمانه کښې راځی؟

جواب:امام مهدی به د قیامت سره نزدے زمانه کښې د نبی کریم ﷺ په نسل کښې تشریف راوړی-

سوال:(۱۸):لامام مهدی پیژندګلو به څنګه کیږی؟

جواب: د نبی کریم ﷺ **د** پیشن ګویانو په رڼا کښې د امام مهدی شخصی علامات یعنی د هغه نوم نسب اودهغه تعارف او دهغه شکل و صورت او اوصافو تذکره څه داسے شوے:

عن عبد الله قال لا تذهب الدنیا حتیٰ یملک العرب رجل من اهل بیتی یواطئی اسمه اسمی-ترجمه حضرت عبد الله بن مسعود نه روایت دے هغه فرمائی چه دنیا هغه وخت پورے نه ختمیږی چه دعربو یو کس به بادشاه شی چه زما د اهل بیت نه به وی نوم به ئی هم زما د نوم په نوم وی-
[سنن الترمذی،باب ما جاء فی المهدی،رقم:۲۲۳۰،ج ۴ ص ۵۷]
په س حدیث کښې د یواطؤ مطلب دے موافقت،کله څنګه چه د الله رب العزت فرمان دے:لیواطؤاعدة ما حرم الله"مواطاة"موافقت ته وائی-
ددے نه معلوم شو چه د امام مهدی نوم به د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د نوم په شان وی بعضے خلق ابو مسل الخراسانی او بعضے خلق عمر بن عبدالعزیز ته امام مهدي وائی نو دا خبره صحیح نه ده ځکه چه حقیقي مهدی به هغه وی چه په آخری زمانه کښې به په عرب کښې پیدا کیږي، دهغه نوم به محمد وی،په بل حدیث کښې حضرت ابو ہریره فرمائی :**لو لم یبق من الدنیا الا یوم الطول الله ذالک یوم حتیٰ یلی- ترجمہ**:کہ د دنیا پہ ختمیدو کښې صرف یو ورح پاتے شی نو الله تعالی به دا یو ورځ اوږده کړی او زما په اهل بیت کښ به یو سړے په عربو حاکم جوړ کړی-
[سنن الترمذی،ج۴،ص۵۷]
په یو بل حدیث کښې د حضرت علی نه روایت دے :نظرالی انبه الحسن فقال:ان بنی هذا سید کماسماه النبی،وسیخرج من صلبه رجل یشبهه فی الخُلق ولا یشبهه فی الخَلق-حضرت علی خپل زوئی حضرت حسن ولیدواو وے فرمائیل چه زما دا زوئی به سر وی لکه چه نبي کریم دده باره کښې پشن ګوئی کړے ده،او قریب ده چہ دده ملا نه به یو سړے پیدا کیږي چه د هغه نوم به د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دنوم په نوم وی،هغه به په اخلاقو کښې د نبی کریم صلی علیه وسلم په شان وی لیکن پیدائشی صفاتو کښې به د نبي کریم صلي الله علیه وسلم په شکل و صورت کښې نه وی یعنی د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مخ مبارک سپین وو،لیکن د امام مهدی مخ مبارک

به سپین نه وی او نبی کریم صلی الله علیه وسلم قد مبارک دنګ وو لیکن امام مهدی به د قد په اعتبار سره دنګ نه وی او دغه شان نور صفات کښې مثلاً وغیره به هم د امام مهدی د نبی کریم صلی الله علیہ وسلم په شان نه وی-د حضرت علی نه یو روایت کښې دی:**لو لم یبق من الدهرالا یوم لبعث الله من اهل بیتی ،یملئها قسطا وعدلاً کما ملئت جوارکه** :که ته یو ورځ هم پاتې شی نو الله تعالی به زما په اهل بیت کښې ضرور یو سړے را پیدا کړی چه دنیا به داسې عدل او انصاف راولی لکه چه څنګه د ظلم زیاتی نه ډکه شوے وه-

حضرت سعید بن مسیب نه روایت دے چه مونږ حضرت ام سلمی رضی الله عنها سره ناست وو په دے دوران کښې د امام مهدی ذکر شروع شو نو ام سلمی رضی الله عنها وفرمائیل حدیث:المهدی من ولد فاطمة چه امام مهدی به حضرت فاطمه رضی الله عنها د اولاد نه وی-حضرت بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے چه مونږ د نبی کریم صلی الله علیہ وسلم نه اوریدلی دی هغه صلی الله علیه وسلم فرمائی:نحن ولد عبدالمطلب سادات اهل الجنة : انا وحمزه و علی و جعفر وحسن و حسین و المهدی چه مونږ د عبدالمطلب اولاد د جنت سرداران یو یعنی زه او حضرت حمزه،حضرت علی،حضرت جعفر او حضرت حسن او حضرت حسین او حضرت امام مهدی-

حضرت ابو سعید خدری نه روایت دے چه نبی کریمﷺ اوفرمائیل المهدی منی یعنی امام مهدی به زما د نسل نه وی-"منی"کښې دے خبرے طرف ته اشاره ده چه امام مهدی به زما په شان د قرآن و حدیث د نفاذ کوشش کوی او امام مهدی به زما په شان جهاد کوی او د امام مهدي به زما په شان ملګری وی لکه څنګه چه زما صحابه دی،لکه څنګه چه صحابه په نبی کریم صلی الله علیه وسلم باندے ځان قربانوو دغه شان به د امام مهدی انصار به هم په خپل امیر باندے قربانوی او په "منی" کښې دے طرف ته اشاره ده چه کوم سړے د امام مهدی سره سومره زیات مشابهت لری، هغه وومره به نبی کریم

صلی الله علیہ وسلم ته نزدے وی ،او مشابهت د امام مهدی د راتلو نه مخکښې پیدا کیدو نوم دے،وس چه څوک سومره زیات د امت او درد په خپله سینه کق لری، او څومره زیات د خلافت راشده حضراتِ اہل بیت حکومت قائمول او د سنتِ رسولﷺ د نفاذ کوشش کوی، دومره زیات به د امام مهدی د راتلو نه پس به په هغه به دا صفات پیدا شي-

سوال(۱۹):امام مهدی او د هغه ممدګار او د حضرت طالوت د انصارو په منځ کښې تذکره د نصوص نه ثابت دی؟

جواب:په یو صحیح حدیث کښې د امام مهدی د انصارو او دحضرت طالوت د انصارو فضائل او ددوی په خپل منځ کښ مشابهت ذکر راغلے دے ، چه په هغے کښ فرمائیلی دی-

لا یستو حشون الی احد،ولا یفرحون باحد،یدخل فیهم علی عدة اصحاب بدر لم یسبقهم الاولون ولا یدرکهم الاخرون علی عدد اصحاب طالوت الذین جاوز وا معه النهر للحاکم،رقم:ج ۴،ص۵۹۶ امام مهدی داملګری به نه د یو ناآشنا سړی د راتول نه نامانوس کیږی او نه به د چا په راتلو خوشحالیږی، دا به دامام مهدی سره د بدری صحابو په شان په تعداد کښې یو شان وی دے جماعت به یو خاص فضیلت وی،چه نه به د دوی نه مخښ دا دضیلت چاته ملاوشوے وي او نه به ددے نه وروستو چا ته حاصل شی-

او حضرت طالوت فرمائیلی دی:**فمن شرب منه فلیس منی و من لم یطعمه فانه منی** چه چا د دے دریاب نه اوبه ونه څکلے هغه به ځما ملګری وی او چا چه وڅکلے هغه ځما ملګری نه دی یعنی څوک چه د امیر اطاعت کوی نو دهغه نسبت د امیر سره وی او څوک چه د امیر اطاعت نه کوی هغه د امیر سره څه نسبت نه لری-ددے نه معلومه شوه چه امام مهدی به د نبی کریم صلی الله علیہ وسلم دسنتوپه مکمل توګه باندے تابعدار وی-

سوال(۲۰):د امام مهدی د مخ،تندی او د پوزے ذکر-

جواب:**أجل الجبهه**:دامام مهدی تندے به کشاده (غټ) وی،دغټ(کشاده) مطلب په بل حدیث **أقبل** سره راغلے دے او بعضو کښ أجبه یعنی ناطئے الجبحهه الفاظ راغلی دی او د دے ټولو لفظونو تشریح دا ده چه د **هغه** تندے به بهر طرفته راوتے او غټ وی او دا غټوالے به د ویختونشوالی د وجے وی یعنی مخے ته به ئي ویخته نه وی د دے وجے به تندے غټ ښکاری-
أقنی الانف:د امام مهدی پوزه به اوږده وی او بل روایت کښې **اشم** لفظ راغلے دے –ددے دواړو لفظونو ملاؤلو او دے نه تطبیق نه معلومیږی چه د امام مهدی پوزه به درمیانه وی نه به ډیره نرے وی او نه به ډیره پلنه وی،نه به چیته او خکته وی او نه به چپکی وی یعنی منځ کښې به وی-
سوال(۲۱):دامام مهدی دحکومت دوخت ذکر او په مختلفو روایاتو کښ د پیشن ګویانو په منځ کښې تطبیق به څنګه وی؟
جواب:حدیث کښې راغلی دی:**یملک سبع سنین** اؤوه کاله پورے به په ټوله دنیا حکومت کوی او د خلافت راشده نظام به قائموی-حضرت ابو سعید خدری نه روایت دے ذکررسول بلاء یصیب هذه الامۃ نبی کریم صلی علیه وسلم د یو بلا او مصیبت تذکره وکړه چه دے امت ته به رسی-لا یجد الرجل ملجا یلجا الیه من ظلم د ظلم نه به د بچکیدو څه ځائے نه وی دے دوران فیبعث الله رجلا من اهل عترتی و اہل بیتی الله تعالی به دے دوران کښې زما د اهل بیت نه او زما د خاص عترت او نسل نه یو سړے راوچت کړی-**فی ملا الارض فسطا و عدلا کما ملئت ظلما و جورا**امام مهدی چه راشی نو د دنیا ظلم و زیاتے به په عدل و انصاف کښې بدل کړی-**یرضی عنه ساکن السماء و ساکن الارض** د زمکے او آسمان والا بہ د هغه خوشحاله وی د هغه په زمانه کښ به **لا تدع السماء من قطرتها شیئاًالا ارسلته مدرارا** آسمان به باران نه ودروی بلکه مسلسل به وریږی ولا تدع الارض من نباتها شیئاًالا اخرجته او زمکه به میوے،فصلونه او زرعونه به نه ودروی بلکه راوباسی به ئي حتی یتمنا الاحیاءالاموات تردے چه ژوندی خلق سره نعمتونه دومره

زیات وی چه هغوی به ارمان کوی چه ځمونږ وفات مړه شوی خپلوان هم ژوندی وے چه د امام مهدی دوخت د حکومت د نعمتونه نه فائدے اخستے وے-
سوال(۲۲):دامام مهدی د پیدائش او عمر باره کښې ډیر روایاتو به تطبیق څنګه وی؟
جواب:(۱)یو روایت کښې دی چه امام مهدی به اصل کښ تعلق د یمن نه ون او نورو روایاتو کښې دی چه امام مهدی تعلق به د کرغه کلی نه وی، په یو بل روایت کښې دی چه امام مهدی تعلق به د تهامه سره وی او دنورو څه روایتونو نه معلومیږي چه امام مهدی به په مکه یا مدینه کښې پیدا کیږی او دغه شان په څه روایاتو کښ د امام مهدی تعلق د خراسان د تورو جهنډو سره د تعلق تذکره ده او د قریشی،حسنی او حسینی کیدو هم ذکر شته-
او دے روایاتو کښ تطبیق ښکاره دے چه د امام مهدی آبائی وطن یمن دے،چه جغرافیائی اعتبار سره تهامه کښ واقع دے،هلته د یو کلی کرغه نه به د امام مهدی پلار نیکه حجاز ته په هجرت راغلی وی او دلته مکه کښ به امام مهدی پیدا کیږی یا په مدینه کښ به دے پیدا کیږی او حجاز کښ به وړوکوالے تیروی،اود خراسان د تورو جهنډو سره به دده تعلق ځکه وي چه د جهاد د پاره به دے خراسان ته ځی-
کرغه کلے د یمن د ملک صوبهٔریمه،او د ډیسټرک:بیت الفقیه،ښار عزلۃ الحوادلکښ په تهامه کښ په مشرق کښ پروت دے ،دا کلے جبل قهوه او جبل جهیزان د غریزو سلسلو په منځ کښ پروت دے-دا کلے په پینځه وړو قصبو باندے مشتمل دے چه په دے کښ اظهرة،مکراع الجروة،هاجر او مرحلہ پکښ دی دلته تهامی لهجے عربی وئیلے شي، د کرغہ نوم کلی ذکر امام ابو بکر المقری په خپل کتاب معجم الشیوخ او ابن عدی په الکامل او الکنجی په البیان کښ امام ابو نعیم نه نقل کړے ده-د سند په لحاظ سره محدیثینودے روایت ته ضعیف وئیلے دے-د نورو صحیح روایتونو سره د

عرض نہ لرلو پہ وجه كه دا ووئيلے شى چه د امام مهدى د صحيح رواياتو د ذكـر كړے شوې علاماتو سره سره يو به پكښ دا علامت هم وي-چہ د امام مهدئ د راتلو نہ مخكښ او د امان مهدي د راتلو نه مخكښ او د راتلو په وخت كښ د هغه تائيد ته به نور هم وده ملاؤ شى-

دامام مهدى په مكه مكرمه كښ د پيداكيدو باره كښ او دامام مهدى بيا يمن ته جلا وطن كولو ذكر امامنعين بن حماد په كتاب الفتن كښ كړے دے:**عن ابن رستم عن ابيه قال المهدى رجل ازج ابلج اعين يجئ من الحجاز حتى يستوى على منبر دمشق و هوا ابن ثمان عشرة سنة**-حضرت ابن رستم خپل پلار نه نقل كوى چه د امام مهدى د سترگو وروځے(بهنوين)گول اوږدے او يو بل نه جدا وى او سرگتے به ئي غټے وى،د حجاز نه به د اتلسو كاله عمر كښ راشى او د دمشق په جامع جماعت(مسجد) كښ به خطبه وركړى-

نوټ:په دے روايت كښ د اتلسو كالو په عمر كيدل او جامع مسجد دمشق كښ خطبه وركول دا كيدے شى چه د راوى وهم وى ځكه چه د بيعت نه پس به امام مهدى دمشق ته ځى او خطبه به وركوى او په دغه وخت به د هغه عمرڅلويښت٤٠كاله وى-

امام مهدى٣٠ يا ٤٠كاله په عمر كښ ددين د خدمت د پاره بطور داعى ووځى او دے نه پس به هغه خپل اصلي نوم محمد په ځائے په يو بل نوم مشهور شى-

يو بل روايت كښ د هجرت او د ملک نه د ويستو ذكر دے:**قال الوليد:يلى المهدى فيظهر عدله ثم يموت،ثم يلى بعده من اهل بيته من يعدل ثم يلى منه من يجورو يسيئ حتى ينتهى الى رجل منه فيجلياليمن الى اليمن ثم يسيرون اليه فيقتولونه ويولون عليهم رجا من قريش يقال له محمد،قال بعض العلماء:انه من اليمن ذالک اليمانى تكون الملاحم**(رواه نعيم بن حمادفى كتابه الفتن)

ولید وائي چه یو سړی ته به حکومت ملاؤ شی چه د هغه په حکومت کښ به انصاف وی لیکن هغه به وفات شی نو د هغه د نسل نه به یو بل سړے راشی چه عدل او انصاف به کوی او د دے نه پس به بیا داسے بادشاهان راشی چه ظلمونه به کوی،تردے چه یو کس ته به حکومت ملاؤ شی نو اهل یمن به د یمن طرفته ووباس(جلا وطن کړی) او هلته به لاړ شی او د یمن خلقو سره به جنګ وکړی او د دوی خلاف به د مسلمانانو یو امیر وي چه د قریشو نه به وي د هغه نوم به محمد وي بعض علما وائي دا به د یمن هغه سړے وي چه د ده په لاس به ملاحم کیږي او دا به امام مهدي وي-
د حضرت علی بن ابی طالب نه روایت دے چه امام مهدي به د ۳۰یا ٤٠ کاله په عمر کښې ښکاره شي لیکن د دعوت په سلسله کښې به د نوي او اصلاحي کار د پاره خلقو ته به په دغه عمر کښې دعوت ورکوي-د بیعت نه مخکښې به په یو بل نوم ظاهر شي :**فیعلو ذکره و یظهر امره** د ده نوم به ښه مشهور شي او د مهدویت به ښه خوره ونه(پرچار)کوي، دغه شان به خلق د امام مهدي طرف ته متوجے شي-
سوال(۲۳):دامام مهدي باره کې په هره زمانه کښې دا خبره اوریدلیکیږی چه هغه به په دے دور کښې راځي او دا خبره د پخواه نه راروانه دا نوځکه د سفیان ثوري نه چا تپوس وکړو چه امام مهدي څوک دے؟ او کله به راځي؟ دغه شان غلط نظریاتو خلق هره زمانه کښې دراتلو دعوه کوي یا نور خلق د هغه له طرف نه د امام مهدي کیدو خورونے(ترویج) کوی، د دے وجه د هر زمانے علما کرامو په دے موضو ع د ډیر بحث کولو نه منع کړے ده،نو ځکه مناسب داده چه ددین نور کارونه په اهتمام سره وکړے شي او په دے موضوع صرف عقیدے دانداز پورے یقین ولرلے شي،دے باره کښې ستاسو څه خیال دے؟
جواب:تمهید:اولنې خبره داده چه دامام مهدي راتګ دقیامت د علاماتو نه دے او علامات قیامت نه بعضے وړے او بعضے غټے دی،او د امام مهدي

راتګ په دے دلیل دےچه وس واړه علامات ختم شوي دي او غټ علامات شروع شوی دی-په دے غټو علاماتو کښې د دجا راتګ او د عیسیٰ علیه السلام نزول دے،چه د امام مهدي په وخت کښې به وي-
دامام مهدي دور باره کښې د ابوهریره حدیث دے:**یبایع لرجل مابین الرکن و المقام،ولن یستحل البیت الاهله،فاذااستحلوه،فلا تسئل عن هلکت العرب** د یو سړي به د رکن او مقام په منځ په بیت الله کښې به د هغه بیت کیږي دے نه پس به خپل خلق نه د بیت الله بے حرمتي وشي دے نه پس د عربو د هلاکت باره کښې تپوس مه کوه چه څومره زر به وي،په دے حدیث کښې درې خبرے دي:
اولئ خبره:بیت الله کښې به د یو سړي بیعت وشي-دا واقعه ۱۴۰۰ه ۲۱نومبر ۱۹۸۹ء د سحر مونځ له چه کله امام بیت الله کښې امامت ته مخکښې کیدو نوجهیمان نومے سړي محمد بن القحطانی رامخکښې کو او دا اعلان ئي وکووچه وس د امام مهدي زمانه ده،دا جهیمان دعتیبی نوم سړي اوښے (د ښځې ورور)وو،داسړے وسله په لاس سره د دوه سوو کسانو دجنازے به بهانه بیت الله شریف ته رادننه شوے وو-
محمد بن عبد الله قحطانی د شیخ ابن باز شاګرد وو، دده نوم مهمد بن عبدالله وو،نرے پوزه،غټ تندے او نور څه علامات د کښې موجود وو، د ده باره خلقو خوبونه هم لیدلی وو، ددے په وجه دے مهدی جوړ او پیش کړے شو-
دویمه خبره:چه ددے نه پس به د حرم خپل خلق به د حرم بے حرمتی وکړی-ددے مثال دسعودی حکومت اودهیئه کبارالعلمایَ د طرف نه سعودی فوځ ته باقعده اجازت وشو،دے نه پس دوه هفتو پورے د مختلف ملکونو فوځ یو ځائے دحرم شریف نه ګیرچاپیر تاؤ(محاصره کرنا) شو،د بکتر بند ګاړو او د ټینکونو په ګولو سره ئي په حرم حمله وکړه-او دغه شان ډیر خلق مړه شو-

که علمائے کرام تلے وے او هغوي ئي په حکمت سره پوهه کړے وے او حکومت د دے علماؤ په ذریعه منع کړے وے،نو حرم شریف کښې به وینه نه وے توئ شوے او د غه شان د بیت الله شریف بے حرمتي به نه کیدے-
دریمه خبره:په حدیث کښې دی چه دے نه پس د عربودهلاکت تپوس مه کوا!چه څومره زر به وی-کیدے شی دے باره کښې نبی کریمﷺ اشاره کړی چه دحرم خپل خلق به دحرم مخالفت و کړي-
دے باره کښې مونږصحیح احادیث وګورو،یو روایت کښې زینب بمت جحش فمائی چه نبی کریم ﷺ یو ورځ د خوب نه رابیدار شو،نو د پیغمبرﷺ مخ مبارک سر وو او هغوی ﷺ داکلمات وئیل:**لا الہ الا الله ویل للعرب!من سرقد اقترب،فتح الیوم من سد یاجوج ماجوج مثل هذه** عربوں دپاره دنزدې راروان شر ن هلاکت دې ،نبی کریم ﷺ خپل غټه او شهادت واله ګته اوچته کړه او اشاره ئي وکړه چه دومره وړوکې سورے په هغه دیوال کښې شوے دے چه د یاجوج ماجوج نه د بچ کیدو دپاره سکندرذوالقرنین جوړ کړے وو- بیا مخکښې ناست خلقو تپوس وکړو چه نیکان خلق موجود وی بیا به هم قیامت راځی نو نبیؐ ووفرمائیل:**اذا کثر الخبث** چه کله بدئ زیاتے شے-
دجهیمان واقعه ته چهو ګورو او حدیث ته وګورو،نو معلومه شوه چه د عربو د هلاکت بنیادی وجو نه به یوه غټه وجه دا وی چه کله د بیت الله بے حرمتي وشي – **من شر قد اقترب** عربو د پاره هلاکت دے، نزدے راتلو واله شر نه ، اود شر نه مطب جنګونه دی،چہ د هغے وضاحت د حضرت علی د دے ارشاد نه کیږی: **لا یخرج المهدی حتی یقتل ثلث و یموت ثلث و یبقی ثلث** ترجمہ:مهدی به هغه وخت پورے نپ راځي څه پورے چه یو ثلث به په خپل مرګ مړه شی او یو ثلث به قتل کړے شی او یو ثلث باقی پاتے شي-
د یو بل حدیث نه د دے جنګونو د زمانے پته لګي:**سععوذ بهذه البیت قوم لیس معهم عدد،ولا منعۃ،ینعث الیهم یجیش حتی اذا کانو بیداء من الارض**

خسف بهم-دا حديث دے،چې مختلفو کتابونو کښ د صحابو حضراتو نه نقل کړے شوي دي-
په دے حديث کښې دا فرمائيلی دی چه د مهدی حقيقی به دا علامت وی چه د هغه سره به نه اسحه وی او نه به د هغه سره زيات تعداد خلق وی او نه به د هغه سره د بچاؤ څه سامان وی او هغه به بيت الله ته راشي او د هغه به بيعت وشی او بيا به په ټوله دنيا د هغه حکومت قائم شي-
پې دے باره کښې نور وضاحت د امام نعيم بن حماد د روايت نه کيږي فرمائي:**سيعوذ بمکة عائذ،فيقتل،ثم يمکث الناس برهة من دهرهم ،ثم يعوذ عائذ آخر، فا ن ادرکته،فلا تعزونه،فانه جيش الخسف**۔
په دے حديث کښې څلور مختلف خبرے دي:
(۱)بيت الله ته به يو کس راشي پناه به واخلی،ليکن هغه به قتل کړے شی-نو ۱۹۸۹ءکښې يو سړے راغے او هغه د سحر په مونځ کښې دامام مهدی کيدو د پاره وينه توئيول شروع کړل دے نه پس هغه قتل کړے شو-
(۲)**ثم يمکث الناس برهة دهرهم**-بيا به څه وخت پورے په دغه زمانه کښې خلق ايثار شی،**ثم يعوذ عائذ آخر** بيا به يو بل سړے راځی-فا ن ادرکته ،فلا تعزونه که تاسو دغه زمانه بيامونده،نو ددے د مخالف لښکر سره مه کيږے، ځکه چه دغه به په زمکه کښې دننه کيدو واله لښکر وی- په دے حديث کښې دی
 برهة من دهرهم کښې برهة نہ مطلب څلويښتو پورے موده ده لکه څنګه بنی اسرائيل څلويښت کاله په وادی ”تيه“ کښې وو-
يو روايت کښې دی چه د برهة اطلاق په څلويښتو کالو باندے شوے دے،فرمائی چه يو سړی څلويښتو کالو پورے ګناهونه کوی،بيا نيک عمل شروع کړی،نو الله تعالی د هغه اعمال قبلوی او د توبے توفيق ورکوی او هغه په جنت کښې دخلوی-او دغه شان څلويښتو کالو د سړی عمر پوخ شی ہم دغه وجه ده چه نبوت هم په څلويښتو کالو په عمرکښې ملاويږي –

 په دے تناظر کښې که وګورے،نو د بلوغت آخري عمر اتلس کاله دے او که دا اتلس کاله د نبي کريم صلی عليه وسلم د عمر مبارک نه منفی کړے نو پينځه څلويښت کاله پاتے کيږي- ددے نه معلوميږی چه اول غير حقيقي مهدي نه پس د دويم حقيقی مهدی تقريباً پينځه څلويښت کاله پس راتلل ممکن دي- ليکن دا تعين محض د ګمان او دتيارے د پاره دے قطعي او يقيني نه دے-

سوال(۲۴):۱۹۸۹کښې جهيمان تحريک ولے پيدا شو،ددے وخت حالات څنګه وو؟د لهيمان د تحريک نه پس د امام مهدی متعلق کارونو طرف ته د امت توجو او موجوده حالاتو کښ د جهيمان تحريک په وړاندے بوتلل او دے ته د امام مهدی د راتګ علامات وئيل ددے څه حقيقت دے او دے باره کښې څمونږ ذمه داريانے څه دی؟

جواب:د لهيمان تحريک په وجه په حرم شريف کښې وينه تويده(خون ريزی)اود بيت الله بے حرمتی کولو سزازغملو بغير داسے په اسان نه وو،په حرم د بمبارئ په وخت کښې د عرب ملکونو خاموشی او داسلامي دنيا په دے حالاتو کښې څه حرکت نه کولو وبال(عذاب) به لازمي راتو ځکه دا واقعه د ټولو مسلمانانو د پاره عمومي او د عربو ملکونو د پاره خصوصي د هلاکت سبب-

ددے سزا ذکر په حديث شريف کښې شوے دے،فرمائي،**يبايع لرجل ما،ولن يستحل الحرم الا اہله ،فاذا استحلوه فلا تسئل عن ہلکت العرب**-يعنی حرم شريف کښې به د شريعت خلاف بيعت وشی ،ليکن دا په درست طريقے د حل کولو په ځائے ددے په بنياد سره دبيت الله بے حرمتي د دے د خپلو خلقو کيدل او چه کله دا بے حرمتي وکړي،نو ددے نه پس دعربو د ہلاکت تپوس مه کوه!

جهيمان تحريک د غلطئ اولئ وجه:

ددے غلطئ اوله وجه په هغه وخت کښې د علماؤ دکتاب الفتن په احادیثو د اهم خبرو یعنی د مهدی د راتګ،ددجال ده فتنے او عیسیٰ علیه السلام د نزول د موضوع نه بے پروائی وه او خپل شاګرد ان ددے د تهقیق او تطبیق نه خبرول،که په داګه وخت کښې د سعودی عرب علمائے کرامو خپل شاګردان د امام مهدی باره کښې د اهم مسئلو نه خبر کړے وے چه دامام مهدي دپاره صحیح ،حسن او ضعیف احادیثو په رڼا کښې څنګه تطبیقی انداز کښې کار کول ضروری دے،کله څنګه چه د دین د نورو احکامو د پاره ضروری وی او هغوي ئي په دے خبره پوئیولے چه د امام مهدی راتګ به نه مکمل تکوینی وی او چه بالکل به څه کول نه غواړي او په دے انتظار کښې به وی چه امام مهدی سمدستي پخپله راځی او نه دا تشریعي مسئله ده چه مونږ د خپل طرف نه په یو کس باندے دا علامات منطبق کړو او هغه مهدي جوړ کړو،حالانکه نه لا وسه پورے علامات زمانه او نه سیاسي علامات پورا شوی او نه علامات تکویني او نه تشریعي پورا شوي دي او نه په دے مسئلے علمائے کرام او نه اهل حل و عقد راپاسیدلي دي- نو ځکه دوي دخپل استاذانو له طرف دے موضوع ته د توجو نه کولو په وجه هغوي په کلونو کلنو پټ پټ په دے محنت وکړو او خپل تحقیق ئي دچا ته ښکاره نه کړو ،نو نتیجه د ئي د حرم د بے حرمتے په شکل کښې راوته-

جهیمان تحریک د غلطئے دویمه وجه:

په حرم شریف کښ مونځګوزاریرغمال کولو سره دبیعت وغیره ترتیب جوړول او دے نه پس هئیت کبار العلماؤ له طرف نه فتوی جاری شوه چه سعودی حکومت د پاره په حرم کښې دے واقعه نه پس ددے خلقو په بیت الله شریف کښې وژل جائز دی، دے نه پس فوځ په بیت الله شریف حمله وکړه- په دے کښې دویمه غټه غلطی د مذهبی مشرانو وه چه هغوي جهیمان او د هغوي نور پیرو کار د ترغیب او ترهیب په ذریعه توبه تائب کولو تلقین کړے وے،دے نه پس دا پورا یقین وو چه هغوي د خپلو استاذانو خبره منلے

وے او وسله ئي کیخودے وے او دغه شان به حرم شریف د الحاد نه بچ شوے وے او هلته به مرګ جوبله هم نه وے شوے-

جهیمان تحریک دغلطئےدریمه وجه:

داسلامي ملکونو مشران او مذهبي خلقو نه دا غلي پاتے شو بلکه ددغه خلقو خلاف په حرم شریف بمباری کول او د بیت الله بے حرمتے تعریف ئي وکړو-

جهیمان تحریک د غلطئے څلورمه وجه:

ضیعف روایاتو باندے تنقید کول او صرف صحیح رویاتو عمل کولو کوشش لکه څنګه چه د شریعت نورامورو باندے اثر کړے دے هم دغه شان کتاب الفتن او د امام مهدي باره کښې امور باندے هم ډیر اثر غورزولے دے. که جهیمان د تورو جهنډو متعلق روایات په دے وجه نه پریښودے چه دا روایات خو ضیف دي نو په حرشریف کښې به خون ریری نه کیدے او په دے کښې بیادي غلطي د سعودي د هغه علماؤ وه،چا چه په ضعیف روایاتو باندے د اعتماد نه کولو ماحول جوړ کړے دے-

نوځکه د دے واقعه نه پس کفر د مغرب او مشرق نه په جزیرة العرب باندے دہر طرف نه حمله وکړه،او هر طرف نه په مسلمانانو حملے شروع شوے، ځکه روس په افغانستان باندے حمله وکړه،عربو ملکونو د امریکے دپالیسئ په وجه مجاهدینو ته افانستان ته د تلو اجازت ورکړو او په دے دوران کښې د خمیني انقلاب راغے،دے نه پس ایران عراق جنګ شروع شو،او د دواړو طرفونو نه ډیر مرګ جوبله وشوه‌بیا د ایران عراق جنګ په ختمیدو باندے عراق په کویت حمله وکړه او بیا کویت د امریکے فوج راوستو او په جزیرة عرب کښې دیره کړو،د هغوي په راتلو باندے دعربو په هلاکت کښې نوره هم اضافه وشه،ځکه چه اقوام متحده په عراق باندے معاشی پابندیانے ولګولے، ددے په وجه د عراق معیشت تباه شو او د بي بي سي د یو رپورټ

مطابق صرف ۵ لکه ماشومان مړه شو او دنورو مړو تعداد ددے نه علاوه دے-
افغانستان کښې د روس د شکست نه پس هلته مجاهدين په خپل منځ کښې په جهګړو شول او چه کله د طالبانو حکومت راغے،نو د ۱۱سمتمبر واقعات وشول او بيا ټل کاله افغانستان په جنګ کښې اخته شو ،چه کله په ۲۰۰۳ءکښې امريکے په عراق حمله وکړه،دا ځل امريکے خلق سم تباه کړل- تر دےچه په تيونس کښې د عرب بهار په نوم باندے دعربو حکمرانانو په خلاف يو تحريک راوچت شو،چه په شام کښې ډير خطرناک صورتحال سبب جوړ شو او بيا سعودی اتحاد په يمن بمباری وکړه،ددے په جوب کښې حوثي مليشاؤ په رياض او دبئ باندے ميزائل راويشتل- په دے نظر چه حديث باندے بيا نظر وکړے نو مسئله رابښکاره کيږی: **فلا تسئل عن هلکت العرب** ځکه چه نبی کريمﷺ په عربو کښې د فتنو زيات والے زيات خون ريزجنګونوته فرمائيلي دی:ويل للعرب من شر قد اقترب عربو د پاره ہلاکت والا شر نه لرے اوسيدل پکار دی ځکه چه په دے جنګونو تباهي ده-
دويمه خبره چه د جهيمان د واقعه نه امت ته معلومه شوه هغه د امام مهدی باره کښې تطبيقی علم وؤ،دے نه مخکښ خلقو به صرف صحيح احاديث لوستل او د امام مهدی راتګ ئي يوه معمه ګنله ،ليکن ددے واقعه نه پس خلقو کښې ددے باره کښې علم پيدا شو او دے موضوع باره کښې اړخونونه تحقيقي تطبيقي کار رامخے ته شو-
لکه چه جهيمان د تحريک ظهور مهدي د راتګ د پاره د دروغو صبا وؤ،ځکه چه دے نه مخکښې ممبر او محراب په دے بحث او ذکر باندے غلے وؤ،ليکن دے واقعه نه پس يو طرف ته د مهدی راتګ باندے نه ختميدونکے کتابونو سلسله شروع شوه او بل خواه ته دخلافت قائميدو نه نا اميدو خلقو ته د امام مهدي آسره ملاؤ شوه او د هغوی د راتلو خواهش د

خلقو پہ زړونو کښې پیدا شو، دغه شان دا واقعه یو ریښتاؤ صبا یعني د امام مهدي د راتګ علامت وګرزیدو-

چه په امت مسلمه په عامه توګه او سعودي حکومت په خاصه توګه دخپل مخکښې تیرو شو رویو نه ځان وساتي،مهدي غیر حقیقی یعنی جهیمان په کوم ماحول کښې راوچت شو هغه ماحول بیا راپید نشي،بے حیائي,سنیماګانے او نورے د الله د نافرمانیانو والا کارونه د ټول امت نه او د جزیرة العرب نه ووبساي-

لیکن داسے ونه شو بلکه ټوله امت مسلمه د کفارو تابعدار شو او سعودی حکومت هم د غه نعره اوچته کړله "**الاسلام المعتدل المنفتح علی عالم**"داسے اسلام چه معتدل وی او سعودي عرب د ټولے دنیا د پاره آزاد دے،یعني د ټولے دنیا د سهولتونو او فحاشو د پاره بل خواه د تلو حاجت نشته،بلکه دا وس په سعودي عرب کښې به ملاویږي ددے د پاره ویژن ۲۰۳۰ په نوم باندے سعودي عرب کښې یو نظام شروع کړو، چه د هغے په وجه به وس ښځو تپ مکمل آزادي حاصل وی او یورپ ته به د تلو حاجت نه راځی،د دے نه علاوه د جزیرة عرب په مختلفو ښارونو مثلاً ریاض او جده کښ بتان هم ولګول،او د امر بالمعروف په ځائے"هئیۃ الترفیہ"او ریفریشمنټ په نوم ئي په مختلفو ښارونو کښې سنیماګانے,میوزک فیستول او نور مغربی مادر پدر آزاد معاشرے د قائمیدو دپاره څه کمے پاتے نشو-

په وینا د"سعد الفقیه"د ا صورت حال د نن نه ۴۲،۴۳ کاله مخکښې د جهیمان د شروع کیدو سبب جوړشو،چه هر ځائے کښې به د ټنګ ټکور (موسیقۍ) رواج عام وو نو ځکه د جهیمان تحریک نه پس "الصحوة الاسلامیه" نوم تحریک شروع شو،چه په هغے د اسلامي شعائر بے حرمتي او د امر بامعروف د قائمولو د پاره د ټول ملک علماؤ کوششونو وکړل،او آخر سعودي حکومت دوباره اسلامي نظام د بحال کولو د پاره فکرمند شو-

لیکن ۴۳کاله پس بیا په سعودی کښې د بے حیائي ماحول جوړ شو،چه د هغے مخ نیونکی علمائے کرام جیلونو وچولے شو او تائید کونکو ته په چپ پاتے کیدو باندے د ژوند کولو اجازت وو- په ظاهره دا معلومیږي چه د مهدي دراتګ نورو علاماتو کښې یو لویه علامه د جهیمان تحریک د ناکامیدو نه پس بے حیائي خوریدل او شاهي خاندان کښې د بے اتفاقئ په وجه به سیاسي حالت خراب وي،دے نه پس ممکنه ده چه امام مهدي راشي، لکه څنګه چه د الله تعالی ارشاد دے:

واذا اردنا ان نهلک قریۃ امرنا متر فیها ففسقوا فیها فحق علیه القول فدمرنها تدمیرا-چه کله مونږ د یو بستئ د هلاکت اراده وکړو نو نو د هغه ځائے اسوده حال خلق په ګناهونو کښې اخته شي،چه د هغے په وجه په هغوي باندے د الله تعالی دعذاب حکم ثابت شي،نو بیا هغه مونږ هلاک کړو-

په یو قرأت کښ"أمرنا"راغلي دي، چه د هغے معنیٰ ده چه مونږ دهغے حاکمان فاسقان فاجران خلق جوړ کړو او هغوی فسق او فجور کښې آخري حد ته ورسی،دهغے په وجه په هغوي باندے دالله د عذاب فیصله ثابته شي- په سعودي عرب کښې په شرابو پاندی نه لګول او علما ئے کـرام په جیلونو کښې بندول که د دے آیت په رڼا کښې وګورئ نوخبره ښکاره شوه:**ونخوفهم فما یزیدهمالا طغیانا کبیرا** مونږ خو هغوي لره ویروو لیکن دے سره په هغوي سرکشي نوره هم زیاتیږي-

د جهیمان تحریک نه مخکښې بے حیائي او فساد دحکومت په سرپرستئ کښې حد ته ورسیدو،نو دا تحریک اګر چه په دے څه شرعي غلطئ پکښې وے ، یلکن د دے خلقو په اخلاص سره علمائے کـرام د سعودی عرب اصلاح طرف ته متوجه شو او په ملک کښې د اسلام حالت ښه شو –لیکن د ۲۰۱۷نه پس دا فساد بیا په زور سره شروع شو،ددے د پاره ضرورت د دے خبرئ وو چه د ټول امت علما د خپلو خپلو ملکونو حالات په شریعت

سمولو سره په عالمی توګه د خلافت د قائمیدو کوشش وکړی او په دے دور کښې د امام مهدي د خلافت دپاره دعلمائے کرامو کمک ته متوجے شی-
ځکه چه قرآن مجید کښې دا اصول مقرر شوي دي چه کوم قوم ته په زمکه حکومت ملاؤ شي او هغه قوم هغه حکومت د الله تعالی د مرضئ خلاف استعمال کړی او په زمکه کښ د ګناهونه په ذریعه فساد خوروي نو الله تعالی په عامه توګه هغه ته دوه ځله موقع ورکوي او بیا هغه د زمکے د مخ نه پناه کوي لکه ځنګه چه د یهود باره کښې فرمائیلي دي چه دوي ته به هم دوه ځله حکومت ملاؤ شي ،لیکن چه دوی حکومت په غلطه روان شي نو الله تعالی به په دوي خپل طاقتور بندیګان مسلط کړي او دوي به تباه و برباد کړي او د دوی جماعت یا مال ودولت ډیر والے به ددوی هیڅ په کار رانشي،لکه ځنګه چه فرمائي:"**وان تعودو ا نعد**"که تاسو د خپل بد عملئ نه منع نه شوئ او بیا بیا ئي کوئ نو مونږ به هم دغه شان عذاب نازلوؤ،فرمائي:**ولن تغنی عنکم فئتکم شیئا و لو کثرت** اګر که تاسو سره ډیر خلق او ډیر دولت وي لیکن هغه تاسو بچ کولے نشي-
موجوده حالاتو کښې نه خو په مسلمانانو کښې څوک خلیفه شته او نه مکمل اسلامي نظام حکومت شته ، په دے حالاتو کښې چه یو طرف ته احادیثو کښې د امام مهدی د راتګ نه مخکښ علامات زمانیه،مکانیه اوتکوینیه ممکنه طور باندے پورا کیدل په پکاردي،نو بل طرف ته دشرعي ذمه داریانو د اداکولو د پاره په احادیثو کښې چه د علمائے کرام کو فرائض منصبي بیان شوی دی ،هغه پورا کول هم په زمونږ لازم دي ، چه یو طرف ته د مسلمانانوسروه شوے د الله تعالی د خلافت د قائمولو وعده پورا شي ،نو بل طرف ته د علمائے کرامو ته په احادیثو مبارکه کښې ذکر شوي علامات شخصیه هم په سرِي کښې ملاؤ شي ، نوخلافت علی منهاج النبوه نبوي وعده به هم پوراشي او مونږ به د هغے اهل شو-

دجہیمان تحریک د ناکامۍ بنیادي وجه دا شوه چه چه هغوي د علامات زمانیه دمکمل کیدو انتظار ونه کړو او په تندۍ کښې د مهدی د خپل طرف نه مقرر کړو   او د دے   صرف صحیح ئي د تحقیق بنیاد جوړ کړو او ضعیف روایات ئي بالکل ترک کړل،چه د دے په وجه په حرم شریف کښې د خون ریزۍ واقعه وشوه-

هم داسے د امام مهدي دبیعت دپاره صحیح احادیثو کښې دا شرط وئیلے شوي دي چه دا بیعت به دومره امن او طمینان سره وي چه په بیت الله که به یو قطره وینه هم تویۍ نشي او نه به ارام کولو والا اوده سړے به دخوب نه راپاسي-او دا بیعت به په شرعی اصولو په ټوله دنیا کښې مختلف طرفونو نه بیت اخستے شوي علمائے کرامو په رضامندۍ وشي-

زمونږ په ذمه دارو کښې دا دي چه فتنه ګرو خلقو د ملګرتیا نه ځان وساتو- د خپل صحت خیال وساتو ،ورزش،تیراندازي،لامبو وهل،ډرائیونګ او نور تربیتونه ضرور وکړو- دخپل کور او بچو د پاره خوراک محفوظ کړو- او دغه شان دبینک او نورو مالیاتي ادارو په موجوده نظام باندے باور ونه کړو بلکه ثمن حقیقی یعني سرۀ زر او سپینزر وغیره ذخیره ځان سره وساتو- دالله تعالې نه ډیرے دعاګانے غواړو او تهجد و اهتمام کوۀ- ددین په ټول کارونه په اتفاق او اتحاد سره وکوۀ او جماعت سره ځان یو ځائے وساتو- د علماؤ قدر کوۀ او د دیندارو خلقو سره محبت کوۀ- دامام مهدي د لښکر سره یو ځائے کیدو دعاګانے غواړے او د ورځے زمری او د شپے عبادات ګزار جوړیدو کوشش کوے- هم دا د امام مهدي د لښکر تیارے دے-الله دے مونږ له توفیق راکړي آمین

سوال(۲۵):دامام مهدی د بیعت د پاره به دټولے دنیا نه اوؤوه یا نهه علمائے کرام به د خلقو نه د امام مهدي د کمک بیعت اخستے وی او مکے مکرمے ته به راځي- آیا موجوده وخت کښې ددے کار د پاره څه لاره ممکنه ده، د قرآن او حدیثو په رڼا کښې رهنمائي وکړے-

جواب:دالله رب العزت ارشاد دے: **بل کذبوابما لم یحیطوایعلمه ولما یا تهم تاویله** چه کفار و ددے خبرے تردید وکړو او دروغ ئي وګنل، اود هغے تاویل او انجام وسه پورے هغوي ته ښکاره نه شو-
که د دے ایت په رڼا کښ مونږ وګورو، نو معلومه به شي چه د امام مهدی زمانه او هغه زمانه کښې د هغه راتګ دا د نمر په شان دی، چه هر صحیح نظر والا سړي ته به په نظر راځی،چه د چا نظر صحیح وي،لیکن چه د چا په سترګو کښې"چندنا"فن وي او په نظر کښې فرق وی نو هغه نمر هم صحیح نه ویني،ځکه چه نمر راختو وخت کښې هغه خلق دنمر شعلے پیژنی چه څوک ویخ وي، لیکن کوم خلق چه په غفلت کښې وي یا اوده وي،نو هغوي د نمر راختو په وخت خو نه د نمر د شعاګانو څه پته لګي او نه هغوی د نمر دراختو ښکلے نظاره لیدو ته ملاویږي او کله چه نمر راوخیژي،د دے نه پس هغه ته اندازه ولګي چه نمر راختلے دے او د نمر د ګرمئ او د تودوالي احساس ورته وشي-
دغه شان د اولے او دویمے ورځے سپوږمئ هر څوک نشي لیدلے،بلکه هغه سړے چه ډیر کوشش او اهتمام کوي او دے دپاره زاویه ګوري او د سپوږمئ د لیدو د پاره انظار کښې ناست وی،نو هغه سړے ئي لیدے شی،رلیکن وروستو چه کله سپوږمئ غټه شي ،نو بیا هر سړے یې بیا لیدے شي-
کیدے شي چه دا حال د امام مهدي هم وی چه دومره زیات دلائلو د لیدو نه پس هم مشاهده نه کوي،نو دے نه پته ولګیده چه څوک یئ نه ویني نو د دوي دلیدو څه دلچسلپی نشته او د دے دلائلو یئ ژوره مطالعه نه ده کړے،بلکه ددے دا دلیل دے چه سرسری مطالعه یئ کړے ده،ځکه چه هر سړے په هر فن کښې مجتهد نه وی- بلکه په اجتهاد کښې تجزیه ممکنه ده-
لکه څنګه چه د الله تعالی ارشاد دے:**ولو ردوه الی الرسول والی اولی الامر منهم لعلمه الذین یستنبطونه** یعني پیژندل او د ه هغے متعلق امور پیژندل او

په دے کښ د غلطئ نه ځان ساتل او په دے کښې دخپو د خویدو او غورزیدو نه په امن کښې کیدل په دے صرف استنباط والا پوهیږي-
استنباط : نبط د اوبو راوتو ته وائی،دکوهي اولے فواره راوتو ته "نبط " وائی ، کوم خلق چه ژوره مطالعه او ژور سوچ لري او ددے په وجه معاملات کښې غور کوي،او په مختلف طریقو سره دحالاتو جائزه اخلي او ځان حقیقت ته د رسولو کوشش کوي،لکه څنګه چه د الله تعالی ارشاد دے چه مونږ قرآن لره یوه ښکاره نخښه ګرزولے ده وکذالک انزلنه آیات بینت مونږ د قرآن آیتونه رالیږلي دي،او د دے آیتونه بالکل واضح دي-
لیکن باوجود ددے چه واضح اهل لسان عرب وؤ یعني عربي یې خپله ژبه وه دا خلق په قرآن نه پوهیدل- ددنیا په ټولو معاملاتو پوهیدل،ټول ُڅیزونه ئي پیژندل لیکن واضح طور ددین په خبرو، نه پوهیدل،بلکه هغه خلق په دے پوهیږي چه د چا په زړونوو کښې علم او دامت غم او درد لري-الله رب العزت د قرآن پوهه او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم رسالت او بعثت د نمر او سپوږمئ په شان ګرځولي دي،چه بصیرت والو په نظر راځي-هم دے باره کښ دالله تعالی په دے ارشاد کښې اشاره ده:بل هوا آیات بینت فی صدور الذین اوتو العلم بلکه د قرآن واضح آیتونه د اهل علمو په سینو کښې دي-چه د چا زړونه د یقین په زیور باندے آرسته وي،نو په هغوي کښې بصیرت وی اوپه حق خبره اوریدل او پوهیدل ورته آسان وي دے نه پس هغوي د حق پیروي کوي او په حق خبره عمل کوي- او د خپلے زندګئ مقصد ئی ګرځوي ،ددے په مقابله کښې چه د چا زړونه داسے نه وي،نو الله تعالی هغوي ته"اعمی"یعني ړانده وئیلی دی:**افمن یعلم انما انزل الیک من ربک الحق کمن هوااعمی** کون خلق چه پیژنی ستا طرف ته د الله تعالی حق یعنی قرآن راغلے دے،آیا د هغوي د هغه برابر دی،چه د چا زړونه ړانده دي-
څکه الله تعالی اهل علم ته د قرآن دخودلو او پوهیدلو د پاره ارشاد فرمائي:**ولیعلم الاذین اوتو العلم انه الحق من ربک** او اهل علم پیژنی چه دا

قرآن داالله تعالی د طرف نه حق او رښتوونے دے او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم طرف ته نازل شوے دے- په یو بل آیت کښې فرمائي: **تلک حدود الله یبینها لقوم یعلمون** دا د الله حدود دي،الله تعالی هغه خلقو ته بیانوي ،چه څوک علم لري-

ددے نه معلوم شوه چه په هر دور کښې دحق خبرے انکار هغه خلق کوي، چه د چا په زړونه تنګ وي،ځکه چه د هغوي په عقل کښې دا خبره وي چه په کومه خبره دوي نه پوهیږي ،بس سمدستی د هغے انکار کوي-حالانکه دا د اهل علمو طریقه نه ده،ددوي مخکښې چه کومه خبره محلِ اشکال وي او هغوي په نه پوهیږي ،نو په هغے کښې تحقیق کوي او ځان د خبرے مقصد ته رسوي،او دے نه پس فیصله کوي او کوم خلق چه د حقیقی علم مظاهره نه کوي ، نوهغوي چه په کومه خبره نه پوهیږي نو فوراً د هغے خبرے انکار کوي،ځکه فرمائي:**بل کذبو بما لم یحیطوابعلمه** یعنی هغوي دهغه خبرے تکذیب کوي چه په کومه خبره نه پوهیږي- حالانه الله تعالی فرمائي:**ولما یا تهم تا ویله وسه** پورے له ددے خبرے تاویل او انجام ښکاره شوے نه دے-

ددے ارشاد مطلب دا دے چه څو پورے خبره انجام ته نه وي رسیدلي،د هغے نه مخکښې انکار کول جائز نه دي،بلکه چپ پاتے کیدل مناسب دي،چه د یو خبرے تائید وشي او انجام ته ورسي او د هغے حقانیت ښکاره شي، هغه وخت پورے انکار کول جائز نه دي- او که په اول کښې یو خبره بغیر د تاویله رښتیا معلوم شی او د هغے په حق کیدو باندے یقین راشی ، نو د هغے په منلو کښ څه خرج نشته،لیکن انکار کول پہ هرمذهب او ملت کښ مناسب نه دے-

د مخکښې د امتونو دانبیاؤ د تکذیب هم دغه وجه ده چه هغوی به د خپل وخت د نبی په خبره نه پوهیدل، ځکه چه د هغوی په زړونو کښې به ددے

خبرے د حقانیت احاطه نه وه،ځکه د نبي د دے خبرے تسلیمولو طاقت نه لری-
ځکه په قرآن مجید کښ:"**لم یحیطوا بعلمه**"ارشاد فرمائیلے شوے دے او د "احاطه"مطلب دادے چه یو څیز ښه پوهیدل او دے نه پس په هغے منګولے لګول-
د انکار یوه بله وجه دا وه چه د هغه نبی به چه څه خبره کوله،نو دهغے تعبیر او د هغے حقیقی تاویل به د هغوي په کفارو په مخکښې نه کیدو،نوځکه چه کومه پوهه نه شی نو وئیلو والا که ډیر دلیلونه بیانو وی او دے ډیر ریښتونے وی، خو هغه به ئي نه تسلیمو ،د طریقه په دے امت کښې هم جاري ده ،لیکن د اہل علم لیکن د اہل علمو دا طریقه نه وه،بلکه هغوي د دےخبرے په حقیقت پوهیږی او ددے ژوره مطالعه کوي،د الله تعالی ارشاد دے:
د هغے ژوره مطالعه کول په هغے پوهیدل- دویم به انکار کوؤ نو د هغوی مخکښې به هم هغه خبره وه لیکن د هغے تعبیر به ئي مخے ته نه وو نو کومه خبره چه مخے ته نه وی خواه هغه که رښتیا هم وي خلق هغه نه مني ددے په وجه الله رب العزت ارشاد دے:**قل امنو به اولا تؤمنوان الذین اوتو العلم من قبله یتلی علیهم یخرون للاذقان سجدا** یعنی الله رب العزت د دے خلقو په وجه اسلام ته عزت او غلبه ورکړه،ځله چه هغوی اهل علم وو او د علم په رڼا کښې هغوي الله رب العزت پیژندو-
او د اہل علم مطلب دا دے چه د دنیا کارونو کښې او د آخرت معاملاتو ته به هغوي ډیر ژور نظر کتل،د هغوي مقصد به صرف شپه ورځ تیرول خپل معاملات کتل او خپل علمي او نور مصروفیات کتل نه وو ،بلکه هغوي به ټول نظام کښې غور وفکر کتل چه په دنیا کښې چه څه هم کیږي هغه د الله تعالی د قوانینو او د رسول ﷺ د حدیثو په رڼا کښې دهغے ډیر په غور سره جائزه اخسته چه د شریعت په رڼا کښې هر قدم اوچت کړي-

هم دغه وجه ده چه د اسلام په شروع کښې نبی کـریم صلی الله علیه و سلم باندے ایمان راوړلو والا ډیر کم وو،مګر د چا عقل کار کوو او په انجام باندے نظر وو،لکه ورقه بن نوفل اوعبدالله بن سلام وغیره حضرات، هغوي هم هغه وخت اسلام قبول کړو-هم دغه رنګ سلمان فاسي درے علامات یاد کړي وو،هغه ئي چه پیغمبر ﷺ کښې ولیدل نو د هغوي حقانیت ئي تسلیم کړو او اسلام ئي راوړو-

هم دغه شان به دامام مهدي انصار په شروع کښې ډیر کم وي او د امام مهدي د نصرت محنت کولو والاپه ړوله دنیا کښ صرف اووه یا نهه علما به وی او په دے کښ به د هر کس په لاس د امام مهدی د بیعت نه مخکښې د نصرتِ مهدۓ بیت کولو والا ۳۱۳ کسان وي،ځکه چه هم دا به د علم په مقتضیٰ باندے صحیح طرف ته تلو والا پوهیدونکي خلق وی ،چه د رسول صلی الله علیہ وسلم د نمسي د خلافت قائمیدود دپاره به مکے طرف ته ځي او هلته به د محمد بن عبدالله دالمهدی په لاس په خانه کعبه کښې د رکن یمانی او مقام ابراهییم سره بیعت کوي-

سوال(۲٦):امام مهدی چه کله تشریف راوړی نو د دنیا حالت به څنګه وي؟فرقه پرستي او احادیث مبارکو نه استدلال-

جواب:موجوده دور کښ فرقه پرستي ختمول د مسلمانانو په اتفاق باندے کیدے شی او دمسلمانانو اتفاق دقرآن و سنت تعلیمات په دنیا کښې په نافذ کولو باندے کیدے شي،چه د هغے دپاره خلافت راشده نمونه ده،چه د امام مهدي په وخت کښې به قائمیږی،هغوي به د مجدد په حیثیت باندے تشریف راوړي،لکه څنګه چه د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي:د امت مجدد هر سل کاله پس د امت د اصلاح د پاره راځي،چه د مسلمانانو د دینی تعلیماتو غلطئ صحیح کیدو به تجدید (تهیک) کوي په یو بل روایت کښې دي:**ابشرکم بالمهدی یبعث علی خلاف من الناس وزلازل** او په بل حدیث کښي دي:**یملاالارض قسطا وعدلا کما ملئت ظلما و جورا-**

نو د امام مهدي په صفاتو کښې د ټولو نه لوے صفت دا دے چه د امام مهدي د راتلوو نه مخکښې به په ټوله دنيا کښې عدل او انصاف ختم شي او د ظلم زياتي نه به دنيا ډکه شي-**جوراو ظلما** په دے دواړو کښې اوله خبره: د جور مطلب تصوراتو کښې ناانصافی ده يعني د امت په ذهنونو کښې چه کوم مفاهيم وي،نو هغه به دظلم په سوچونواو فکرونو باندے وي يعني اعتقادي ظلم به عام شي-

او په عقيده کښې د ظلم نتيجه به عملي ظلم په شکل ښکاره شي او د ظلم نه مطلب مرګ جوبله ،دخلقو حقونه ضائع کيدل او نور فساد وغيره دے او د جور مطلب مفاهيم،آراء او افکار و معتقدات کښې نا انصافي ده،چه د امام مهدي په راتلو به ختم شي-

په موجوده زمانه کښې خو نه د صحيح تصوراتو څه انتظا م شته او نه د عدل و انصاف دقائمولو څه ذريعه شته,ليک د مهدي په وخت کښې به ددين پوهه او صحيح نظرياتو او تصوراتو به يو لوی پليټ فارم وي- موجوده ډله بندي،مختلف سياسي او عسکري تنظيمونه په خپل منځ کښې د بے اتفاقۍ ښکار دی،د مهدي د راتلو نه پس به په ټول انسانيت کښې عدل او انصاف راشي-

ځکه چه امام مهدي به د دے فتنو په موجودګۍ کښې د يو ډلے ،تنظيم يا جماعت حصه نه جوړيږي،لکه په يو روايت کښې دي:**لم تلبسه الفتن ولم يلبسها** امام مهدي به نه فتنو کښې اخته کيږي او نه به او نه به فتنے د ده خواله راځي او په يو روايت کښې فرمائي:**ليس من ذی ولا من ذی** د بيعت نه مخکښې هر يو کس به په خپله رائے اسرار کوي چه د هغے په وجه د نورو رائے قبلول ګران وي ،صوبائي، داخلي،ملکي،علاقائي،او بين الاقوامي اختلافات به ډير زيات وی چه د هغے نه دوتلو به څه لاره نه وی،هرکس به د امت د تقدير دبدلولو کوشش کوي ليکن ددے مصيبتونو او ددے پيچيده ماهول نه د وتلو حل به چاسره هم نه وي،چه د هغے د اصلاح د پاره به امام

مهدي تشريف راوړي ،چه کله د امام مهدي له طرف نه داسلامي نظام پاليسي قبول کړے شي ,نو خلقو ته به امن وامان او عدل و انصاف ملاؤ شي- ددے حالاتو د پاره د مخکښې نه تيارئ د هر چا ذمه داري ده-

سوال(۲۷):يهودو د خپل محرف تورات نه د نبي کريم صلى الله عليه و سلم د پيدائش ځائے او هجرت وغيره علامات معلوم کړی وو،نو چه مونږ کوشش وکړو نو دقرآن و حديث نه ځائے او وخت نه شو معلومولے؟

جواب:**تمهيد**:ځمونږ کار عمل کول دي،مقرره وخت پيژندل او خاص کول ځمونږ کار نه دے،لکه څنګه چه نبي کريم صلى الله عليه و سلم ته د جمعے د ورځے د دعا د قبليدو وخت نه دے خودلے شوے- هم دغه رنګ د ليلة القدر فضيلت بيان شوے دے،ليکن وخت متعين شوے نه دے-دغه شان د قيامت باره کښې علاماتو وغيره نه نشاندهي شوے ده،ليکن مقرره وخت ارشاد نه دے فرمائيلے شوے،ځکه چه الله تعالى قرآن مجيد د امت د هدايت د پاره واضح طور سره نازل فرمائيلے دے، ليکن بعضے آيات متشابهات هم نازل فرامائيلی دی چه د هغے حقيقي معنے د الله تعالى نه علاوه بل چا ته معلوم نه دي دغه رنګ حروف مقطعات هم دي چه د هغے قطعي معني چاته هم معلومه نه ده-

هم دغه شان د علامات قيامت اهم امور مثلاً د امام مهدي د راتګ وخت او شخصيت واضح طور سره مقرر نه دي فرمائيلي، ليکن دا علامات يې فرمائيلي دی،لکه څنګه چه د جمعے په ورځ دقبوليت دعا وخت په احاديثو کښې بيان شوے دے- ليکن حضرات صحابه و تابعينؒ او علمائے امت ددے دپاره او ددے دتعين د پاره مختلف وختونه مقرر فرمائيلي دي،دغه رنګ دليلة القدر دوخت مقرر کيدو باره علمائے کرامو د رمضان دآخری عشرے د طاق شپو تفصيل بيان فرمائيلے دے، دغه شان نور ډير اقوال دے باره کښې نقل شوي دی-

هم دغه رنګ نبي کريمﷺ د علامات قيامت د فتنوباره کښې،امام مهدي،فتنه دجال او نزول عيسیٰ عليه السلام باره کښې اهم امور بيان کړي دي،چه د هرے زمانه خلق د اوپيژني او په دے پوهه شي او ددے فتنو نه ځان وساتي،او د نورو ديني امورو په شان په دے کښې هم مقرره وخت نه دے فرمائيلے شوے،ليکن صحابه،تابعينؒ او نورو اہل علم حضراتو د امور د شريعت په رڼا کښې ددے وضاحت بيان کړے دے او امت ته په دے د عمل کولو دعوت ورکوي-

هم دغه شان په تورات او انجيل کښ د نبي کريم صلی الله عليه و سلم د پيدائش ځائے او دهجرت معلوم کړے وو او دلته راغلل او نبي کريم صلی الله عليه وسلم ئي پيژندلے وو ،ليکن ډير کم خلقو ايمان راوړو،دغه په تورات او انجيل کښې پيژندل کافی نه دي،بلکه دے دپاره تياري کول ضروری دي-

اصل جواب:په قرآن او حديث کښې هم داسے علامات موجود دي،دهغے نه د وخت او سړي اندازه لګي ،ليکن دا ختمي او قطعي ګڼل صحيح نه دی،په دے باره کښې دامام نعيم بن حمادپه کتاب الفتن کښې حضرت ابن لهيعةؒ نه يو روايت نقل دے،په هغے کښې فرمائی :**اجتماع الناس على المهدي سنه ومائتين،بحساب العجم لا بحساب العرب**،چه د خلقو په امام مهدی باندے راجمع کيدل په سن (۴)او(۲۰۰)کښې به وي-

فائده:فلکيات او تقويم علم والا خلق په خيال دا خبره معروف ده چه عام توګه باندے دعيسوي تاريخ متعلق په دنيا کښې دوه قسم تاريخونو رواج دے:

(۱)پوپ ګرګوري تاريخ دے،دا تاريخ عيسائي خلقوکښې رواج دے چه اووه کاله مخکښې دے-

(۲) د ايتهوپيه قطبی کليسا تاريخ دے،دا اووه کاله وروستو دے نو د ۲۰۰۴ سره چه مونږ اووه کاله جمع کړو نو په دے حساب سره به ۲۰ شی – نو په امام مهدی باندے به خلق۲۰۰۴ء هم۲۰۱۱ء کښې راجمع کيږي،ليکن د ا يقيني نه بلکه دا ګمان دے غير يقينی او غير قطعي دي-

موجوده دور کښې چه د عرب بهار په نوم باندے په تیونس، مصر، لیبیا او نور عرب ملکونو کښې چه کوم عوامی انقلاب په مزه مزه زیاتیدو او په شام کښې ددے په وجه زیات فسادات وشو- په دے دوران کښې د امام مهدي تحریک په عربو کښې شروع شو او د امام مهدي متعلق چه څومره شبهات وو په مزه مزه ختمیدل اود یو منظم جماعت په شکل کښې ډیر خلق د دے تحرک سره یو ځائے شو-والله اعلم-ممکنه ده چه ددے جماعت په مدد سره ه مخکښې راتلونکے زمانه کښې د امام مهدي ظهور وشي-
دویمه خبره:دنبی کریم ﷺدځه ارشاداتو مفهوم دے چه ځما په امت باندے به څلور فتنې وې او آخری فتنه به الدهیما وي- ددے فتنے د مددت متعلق د ابو هریره په یو روایت کښې دي چه دا به اتلسو کالو پورے وي او په دے کښې په هر نهه کسانو کښې اووه کسان مړه شي –په یو بل روایت کښې دي چه دوران کښې به د دریائے فرات کښې د سرو زرو د غر متعلق یو مسئله به هم راوچته شي-
په موجوده دور کښې که مونږ د ترکی آپریشن باندے غور وکړو نود یو نام فرات وو او دیو نوم نبع الاسلام وو نو فرات باندے جنګ د څو کالو نه شروع دے په دے کښې دی بهر حال څلورمه فتنه"الدهیما"متعلق که مونږ موجوده زمانه کښې جائزه واخلو نو معلومیږی چه د هر علاقے یو خله فتنه ده مثلا عراق کښې فتنه الدهیما اتلس کاله پورے ۲۰۰۴ء نه شروع ده،او وسه پورے وخت په وختمختلف شکلونو کښې زیاتیږي-
کتاب الفتن نعیم بن حمادپه یوروایت کښې دي چه په اووم کال به مصیبتونه او آفتونه راځي او په اتم کال به مرضونه راشي او په نهم کال به لوږه تنده راشي-۱۴۳۸ھ گویا اتم کال او ۳۹ دانهم کال دے- ددے حساب نه معلومه شوه چه د پورا دنیا حالات د مهدي دراتګ د پاره تیاریږي ،تر دے چه د امام مهدي دشمن هم خپل صفونه تیار کړي او مخے ته راځي- په روایاتو کښې دي چه **خروج السفیانی بعد تسع وثلاثین تسع و ثلاثین** معنی ده ۳۹ او که د

کال په بنیاد شي نو ۱۴۳۹ھ ده- دا ضروری نه ده چه د ۳۹ کال تیردو سره د امام مهدي راشی،لیکن دومره ضروري ده چه دے نه پس به راتګ نزدے وي-
نو ځکه بخاری کښې یو روایت دے چه ځما د امت مثال د هغه مزدور په شان دے چه هغه خو کارلږ وکړي او اجر ورته زیات ملاؤ شي،علامہ ابن حجرلیکلي دي چه ددے امت عمر۱۰۰۰ نه کم نه وي-او سنن ابي داؤد په روایت کښ دی چه ځما د امت په عمر کښې د نیمه ورځ یعني د پینځه سوه کاله اضافے باره کښې ما د الله تعالی نه سوال وکړو نو الله تعالی قبول کړو- ګویا چه د امت مسلمه عمر به پینځلس سوه کاله وي-په یو بل روایت کښې علامه ابن حجرؒ نقل کوي چه ځما امت عمر په آخري هزار کال کښې راغلي دي-
په دے رڼا کښې وګورے نو د سفیانی باره کښې روایت نه معلومه شوه که هغه په ۳۷کښې راغے،نو د هغه حکومت به ۲۸میاشتے وي او که په ۳۹ کښې راغے نو د هغه حکومت به نهه میاشتے وي-او د سنن ابي داؤد په روایت کښې دي چه د اسلام چکئ به پورے چلیږی یا ۳۶پورےاو یا ۳۷ پورے چلیږي که په دے دوران کښې امت هلاک شو ،نو دہلاکت په لاره د تلو د وجے به ہلاک شوے وي ،او که ہلاک نه شو،او د دن د قائمیدو د پاره ئی کوشش وکړو نو نور اویا کاله اضافه به د تیر شوو کالو پہ مقابله وشی- [سنن ابی داؤد،رقم:۴۲۵۴]
په حرم شریف کښ د جهیمان د واقعه نه پس په عرب ملکونو باندے یورپی حمله او د عالم اسلام نور کمزور کیدل ،عراق او شام کښې بد امني،جنګ او معاشي او اقتصادي تباهي ده- په دے وجه د امام مهدي واقعه اګر چه د غیبو سره تعلق لري،لیکن د ذکر کړے شوو حالاتو ته په کوتو سره عمل طرف ته ډیر ه توجو پکار ده-

په دے عملونو کښې لکه څنګه چه مونځ،روژه ، زکاة ،حج او معاشي او معشرتي ذمه داريانے د شريعت په رڼا کښې ادا کول ضروري دي هم دغه شان په دے مخصوص حالاتو کښې دمهدي د راتګ متعلق شرعي ذمه داريانے پيژندل او هغه په وخت او په صحيح طريقے سره ادا کول هم ضروري دي-

په هغے کښې په موجوده دور کښې د فتنو نه ځان خبرول،د بيعت مهدي دپاره پکار شرعي شرائطو پورا کول د دے وخت اهم ضرورت دے،هم دغه رنګ د دجال فتنه او د عيسیٰ عليہ السلام نزول په باره کښې فتنے پيژندل او شرعي اصول او ضوابط پورا کول د يو امتي په حيثيت اهم فرائض دي-

سوال(۲۸):د امام مهدي د راتګ نه مخکښې د نفس ذکيه د قتل نه څه مطلب دے؟عالمي ادارو د امام مهدي د شخصيت د لټولو او د الله تعالی له طرف نه د امام مهدي د حفاظت باره کښې په حديثق کښې څه ذکردے؟د امام مهدي د بيعت نه پس د مخالف لښکر په زمکه کښ دننه (خسف)کيدل متعلق رواياتو موجوده دور کښې تطبيق څنګه کيدے شي؟

جواب:د مصنف ابن ابي شيبه په روايت کښې دی چه د امام مهدی د راتلو نه مخکښې به نفس ذکيه قتل کيږي او په دے باندے به د زمکے او آسمان والا په غصه کښې وي،ددے نه پس به امام مهدي به داسے راوستلے شي لکه چه څنګه ناوے خپل ناوک ته رخستولو په وخت سنګهارولے شي-

فائده: ددے حديث نه يو څو خبرئ معلو ميږي:

اوله خبره:د امام مهدي د بيعت د پاره د مخکښې نه به يو منظم جماعت دعوت چلوي ،چه د خپل وس مطابق به هر قسمه وسائل پکار راولي او د امام مهدي د راتګ تيارے به کوي-

پہ دے کوششونو د ټولونه اهم کار د ټولے دنيا د خلقو سره رابطه کول او هغوي مکه مکرمه کښٰ د امام مهدي د بيعت د پاره يو ځائے کول دي- او د دے کار نور وضاحت د عبدالله بن مسعود په حديث کښې اووه علمائے کرام

په لاسو د دنیا په مختلفو طرفونو کښې د بیعت کولو د پاره دخلقو د راتلو ذکر دے-

په دے خلقو کښې به داسے هم وی، چه د هغوي تعلق به د مخکښې نه د امام مهدي سره نه وي او نه به هغوي د امام مهدي صفات په خپلو سترګو لیدلي وي، دا خلق به دا امام مهدي خوا ته لاړ شي او د هغه د صفاتو وغیره به په غور سره جائزه واخلي او د هغوي سره راغلي علمائے کرام به په دغه وخت د سختو حالاتو په وجه د امام مهدي د بیعت د پاره بیا بیا وینا کوي،لیکن هغوي به هر حل د علمائے کرامو پیشکش رد کوي-

دویمه خبره: علمائے کرام به امام مهدی به په بیعت مجبوره کولو دپاره د امت مظلومیت ورمخکښې کړی،دناوے په شان به هغه د بیعت د پاره تیارولو کښې کامیاب شی-

دریمه خبره:دامام مهدي بیعت به د ټولے دنیا د انقلابونو په شان دهر قسمه شور شرابه، ځکه چه په دے بیعت کښې به شریک خلق د امت په درد درد مند خلق وي ، داسلامیِ نظام د قائمیدو د پاره د مختلف تنظیمونو په شکل کښې ،په خپل منځ کښې د اختلافاتو بے زار او د هر قسمه ښکاره او پټ تربیت کړے شوي به وي،او ددوي انتخاب به دالله تعالی د فیصلے مطابق وي-

ځکه په دے حدیث کښې فرمائیلی دی چه دا بیعت به ډیر په نظم ضبط سره منعقد کیږي نه به په کښې آوازونه اوچتیږي او نه به چاته څه تکلیف رسي ،بلکه د یو اوده سړي خوب کښې به خلل هم نه راځي او نه به په دغه وخت څه خون ریزي کیږي- یو وجه دا کیدے شي چه د هغوي په زړونو کښې د بیعت اهمیت،د خلافت اہمیت،دامام مهدي ادب او احترام او د بیت الله شریف اہمیت مخے ته وی،ځکه په دے کښ شرکت کولو والا هغه عظم خلق وي،چه د ټولو مطلوبه ادابو وغیره خیال به ساتي-

څلورمه خبره: د روياتو د مجموعے په ظاهره معلوميږي چه دامام مهدي دبيعت کولو نه مخکښې دخلقو په زړونو کښې ډير زيات خواهش وي ،ځکه چه دامت د کاميابئ بنياد به دا وي- دداسے خلقوواسطه د هر قسم ددروغ دعوے کولو والا راغلي وي،ځکه د بيعت دا منظر به دليدو په ارمان وی،چه څه رنګ دخلقو د طرف نه د ټول امت په قيادت به اصرارکيږي او امام مهدی له طرف نه به انکارکيږي-

پينځمه خبره: دډيرورواياتونو نه معلوميږي چه امام مهدي او د هغه کورنئ به قيد و بند دسختو تيريږي،ليکن د الله تعالی د طرف نه به د بيعت د پاره د غيبو نه الله مدد کوي،فرمائی:**ليس له عدد و ولا عدة ولا منعة**

شپږمه خبره:د امام مهدی د بيعت نه مخکښې به خلقو په نظر کښې د امام مهدي او د هغه د جماعت څه حيثيت نه وي،ليکن د بيعت نه پس به د ټولے دنيا د توجو بيت الله شريف باندے وي- او مکه مکرمه به د امام مهدي د حکومت نه د آزاد ولو د پاره د ټولے دنيا طاقتونه يو شي او مدينے طرف ته به روان شي او هلته به فساد جوړ کړي او مکے مکرمے ته به روان شي،ليکن په لاره کښ د بيدا په مقام باندے به زمکه دوي دننه(خسف) کړي-

سوال(۲۹):په هردور کښې د امام مهدي دعويدار ډير وي او په هر زمانه کښې دامام مهدي سره محبت کولو والا او د ده په لښکرکښې شريکيدو والا تعداد به هم کم نه وي،بلکه د هر دا ارمان وی چه د امام مهدي په لښکر کښې شريک شي،ليکن مسئله دا ده چه په هغه زمانه کښې به د حق او باطل پيژندږلو ګرانه وي،وس سوال دادے چه داسے به کوم يو علامت وي چه د هغے په وجه مونږ امام مهدي پيژنو چه کوم امام مهدي دے؟ او کوم لښکر د امام مهدي دے؟

جواب:مسدرک حاکم کښې حضرت عبدالله بن مسعود نه روايت دے چه يو ځل نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره ناست وو ،دهغوي صلی الله عليه وسلم په مخ مبارک باندے د خوشحالئ اثرات وو اودا خبره د سيرت په کتابونو کښې هم

مشهوره ده چه کله به نبي کريم ﷺ خوشحاله وو نو د هغوي په مخ به د خوشحالئ د ظاهريدو اثرات وو او خوشحالي به د هغوي په مخ ښکاريده- په دے دغه وخت د هغويﷺ په مخه دبنو هاشم يو څو ځوانان تير شول، دهغوي په ليدل سره پيغمبرﷺ ډير پريشانه شو او د هغوي د مخ رنګ ئی زير شو،نو مونږ هم د هغوي پريشاني محسوس کړه او مونږ تپوس وکړو اے دالله رسوله! څه وجه د چه وس ستاسوپه مخ دخفګان آثار ښکاري او دے نه مخکښې طبيعت شريف ډير خوشحاله وو،نو هغوي وفرمائيل چه ځمونږ او ځمونږ د اهل بيتو د پاره الله تعالی رب العزت ددنيا په مقابله آخرت دنعمتونو ځائے ګرځولے دے- او په راتلونکی وخت کښې به اهل بيت قتل وغارت،ذليل کول او رسوا کولو ښکار کيږي-او د يو ځائے نه بل ځائے ته شړل او د بے عزته کولو غمونه به ورته رسي-

ليکن په آخرئ زمانه کښې به د خراسان نه څه خلق راځي چه د حق او خير يعني د خلافت دنظام د نافذ کولو مطالبه به کوي او دهغے د حصول د پاره به وسلے سره قتال (جهاد)کوي ليکن هغوي ته به دا حق نه ورکړے کيږي نو ددے دحاصليدو دپاره به بيا راپاسي بيا به د دے دپاره جنګ کوي دا ځل به ورته حق ملاويږي،ليکن هغوي به دا حما نوسي يعني امام مهدي په حواله کوي چه په پورا دنيا کښې به د عدل او انصاف نظام قائموي او د دنيا نه به ظلم زياتے او بے انصافي ختمه شي-

وضاحت:ددے حديث په رڼا کښې يو څو خبرئ معلومے شوے:

اوله خبره:چه امام مهدي به د اهل بيتو نه وي او اهل بيت چه څنګه په مخکښې زمانه د ظلم او زياتي ښکار وو نو په راتلونکي وخت کښې به هم دظلم او زياتي ښکار وي او په اهل بيتو کښې به امام مهدي خاص طور د ظلم او زياتي ښکار کيږي- يعني د امام مهدي د حقانيت علامت به دا وي چه هغه به د ظلم زياتي ښکار کيږي-

دویمه خبره: د حضرت علي ارشاد دے چه د امام مهدي په زمانه کښې به د هغه د اهل بیتو خلاف او د آل محمد خلاف هر طرف ته به خلق ولیږلے شي او چرته چه هم د بنو هاشم سره تعلق لرونکي خلق ملاؤ شي،کړي وي او که ښځے وي،هغه ټول به نیسي او قتلوي به ئي،دے دوران کښې چه امام مهدي ته پته ولګي نو چه ما پسے خلق راروان دي نو هغه به ځان سره یو بل ملګرے واخلي او اوبه تختي-ددے نه معلومه شوه چه امام مهدي پسے به د خپل وخت د حاکم د طرف نه دګرفتارئ وارنټ جاري کیږی-دغه شان د امام مهدي دوست او اهل بیت به هم د وخت حاکم د طرف نه د ظلم او زیاتي د تکلیفونو او د مصیبتونو ښکار کیږی به-

دریمه خبره: په دے دوران کښې به امام مهدي ته د ظالم بادشاه نه خلاصئ ملاؤ شي،لیکن د رهائئ نه مخکښې به د ده یو ملګري ته زهر ورکړئ شي او شهید به کړئ شي- دامام مهدي د دے دوست په بعضے روایاتو کښې مبیض،بعضو کښې منصور، بعضوکښې النفس الذکیه او بعضو روایاتو کښې **اخ له فی دینه** په وئیلو سره یاد شوے دے-

څلورمه خبره:د امام مهدي اېل بیت اود هغه د دوست د قتل خبر به د هغه ملګرو کښې دبجلئ د بړق په شان خور شي،او دغه شان به د ظالم حاکم دظلم زیاتي قیصئ هم خورئ شي،او دغه شان به د هر چا په ژبه د امام مهدي خبره وي - لکه څنګه چه په حدیث کښې راغلي دي چه کله الله تعالی د چا سره محبت کوي ،نو جبرائیل علیه السلام ته وائي چه زه د هغه سره محبت کوم،هغه دا خبره فرشتو کښې عام کړي بیا فرشتے لاړے شي او د زمکے والا خلقو په زړونو کښې دا خبر واچوي،دغه شان بیا ټول خلق د هغه سره محبت کوي-هم دغه شان به د امام مهدي معامله هم وي-ان شاء الله-

د ریښتوني او دروغژن مهدي به بینادي پینځه علامتونه وي چه کله هغه پورا شي ،نو هله به امام مهدي راځي هغه پینځه علامتونه:ذمانیه ،سیاسیه

،تکوينيه مکانيه،، شخصيه او شرعيه-علامات شخصيه کښې به يو علامت مخکښې ذکر کړے شوے والاوي-

سوال(۳۰):دمهدي د راتلو نه مخکښ د کفر د سختو تيرو او د بيعت نه پس د اسلام رڼا باره کښ د قرآن او حديث ارشادات بيان کړئ-

جواب:د حق په رڼا راتلو سره د باطل تيرئ ختميږي لکه څنګه چه دالله فرمان دے: وقل جاء الحق و زهق الباطل ان الباطل کان زهقا- دامت اختلافات به د امام مهدي د راتلو سره ختم شي، او دغه شان به د اسلام رڼا په ټوله دنيا کښ خوره شي او د کفر تيرئ به ختمئ شي او داسلام د سحر راختو نه مخکښ د هغے رڼا به به افق باندے د سحر رڼا په شان خوريږي-

د اسلام د سحر خوريدو باره کښ څو آياتونه:

۱.حضرت علي خپل ځوئ حضرت حسن وليدو او وفرمائيل چه نبي کريم صلی الله عليه وسلم د حسن باره کښ فرمائيلی دي چه ان ابنی هذا سيد چه ځما دا بچئ به سردار وي- او نورئي فرمائيل: الله تعالی به ډير رز د د ه دپشت نه يو سړے پيدا کړي د هغه نوم به ستاسو د نبي په نوم وي او هغه به په اخلاقو کښ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره اخلقو کښ مشابه وي، ليکن شکل وصورت کښ به د نبي کريم صلی الله عليه وسلم مشابه نه وي-

يو بل روايت کښ فرمائي چه کله د امام مهدي باره کښ غفلت شي او حق به ختم شوے وي نو په دغه زمانه کښ به هغه راځي- نور ئي ووفرمائيل:دامام مهدي د راتلو نه پس د زمکے آسمانونو ټول خلق به په خنداخوشحالئ ژوند تيروي-

سوال(۳۱): د نفس ذکيه نه څه مطلب دے؟

جواب:"نفس"اسم جنس دے, د ا د يو او د ډيرو دپاره ټولو د پاره دے او" ذکيه"نه مطلب ناحق قتل دے،لکه څنګه چه فرمائي:اقتلت نفسا ذکية بغير نفس آيا تاسو يو ناحق قتل وکړو بغير د قتل د بدلے نه-

د امام مهدی د راتلو نه مخکښ دنيا کښ به ناحق قتلونه عام شي،لکه څنګه چه فرمائي:کما ملئت ظلما و جورا يعني د امام مهدي د راتلو نه مخکښ په ټوله دنيا کښ به ظلم او زياتے وي- خاص طور مسلمانانو باندے به دټولے دنيا کفار حمله کوي: تتداعی علیکم الامم کما تداعی الاکلۃ علی قصعتها چه کفري ملکونه به په تاسوحمله کوي ،لکه څنګه چه ثريد خوړلو والا نور خلق ثريد خوړلو ته رابلي- په يو روايت کښ فرمائي:اذا قال الرجل الله الله،قتل چه يو سړے به صرف په الله الله وئيلو باندے قتل کيږي-

او په کتاب الفتن کښ د نفس ذکيه مطلب د امام مهدي دوست او د هغه مدد کونکي چه کله قتل کړي،نو په دے قتل باندے به د زمکے او آسمان خلق ژاړي-هم دغه شان به د امام مهدي نور انصار د هغه وخت ظالم بادشاه به رانيسي او جيلونو کښ به سزاګانې ورکوي-هم دغه وجه ده چه امام مهدي به د بيعت نه مخکښ د بيعت نه کولو د پاره دقتل دهمکي ورکولے شي-

لشکر مہدی کے فضائل

امام مہدی کے انصار کے فضائل میں کئی احادیث منقول ہیں، جن میں چند ایک ذیل میں نقل کی جاتی ہیں:

1)اللہ تعالی امام مہدی کے مددگار ساتھیوں کو ہر تاریک غبار آلود سخت فتنوں سے نجات دیں گے، یہ حضرات سیاہ آندھیوں میں سے ہدایت کے روشن چراغ ہوں گے، جو انگاروں کو ہاتھوں میں پکڑنے والے ہوں گے۔

2)امام مہدی کے ساتھی ایسے لوگ ہوں گے، جو دن کے وقت شیر اور راتوں کو ترک الدنیا عبادت گزار ہوں گے۔

3)مقام ابراہیم اور رکن یمانی کے درمیان امام مہدی سے بیعت کرنے والوں کی فضیلت تک نہ تو پہلے گزرے ہوئے لوگ پہنچیں گے